# د ښځو د کالو او سینګار په هکله ارزښتناکې لارښوونې

د

النصائح الثمينة لمخالفات المرأة في اللباس والزينة

د کتاب ژباړه


لیکواله:

مرفت بنت کامل أسره

ژباړن:

عبدالمالک «همت»

د کتاب نوم: د ښځو د کالو او سینګار په هکله ارزښتناکی لارښووني
د کتاب فارسي نوم: راهنمایی های ارزشمند درباره لباس و آرایش زنان
اسم الكتاب بالعربية: النصائح الثمينة لمخالفات المرأة في اللباس والزينة
ليکواله: مرفت بنت کامل أسره
ژبارن: عبدالمالک «همت»
موضوع: موعظې او حکمتونه
د چاپ شمېر: لومړي (ديجيتال)
د چاپ تاريخ: سلواغه ۱۳۹۵ هـ ش - جمادي الأول ۱۴۳۸ هـ ق
سرچينه:

دا کتاب د عقيدې د کتابخانې سايت نه داونلود شوی دی.
www.aqeedeh.com/pa

برېښنا ليک: book@aqeedeh.com

د موحدينو ګروپ ويب پاڼو

www.mowahedin.com www.aqeedeh.com
www.videofarsi.com www.islamtxt.com
www.zekr.tv www.shabnam.cc
www.mowahed.com www.sadaislam.com

په عقيدې سايت کې ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسايت د همغږۍ په معنا نه ده.

contact@mowahedin.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**لیکلړ .............................................................. أ**

**د ژباړن خبري ........................................................۱**

**سریزه ................................................................ ۴**

**د کالو او سینګار په هکله عام قوانین................................ ۸**

لومړی: د حرامو شتو له په لاس راوړلو څخه ډډه کول .......... ۸

دوهم: له اسراف څخه پرهېز کول .......................... ۱۵

درېیم: د نورو له پیروۍ څخه ډډه کول........................ ۲۰

الف) د هغه چا سره چي مسلمان نه وي مشابهت: ............ ۲۰

د ځان په جوړولو کي له کفارو څخه د تقلید نخښي ..........۲۳

۱- تر واده دمخه په ښي لاس د واده د چلې (حلقې، ګوتمۍ) په ګوته کول او د واده په شپه د هغې دکیڼ لاس ګوتي ته لېږدول: ...................................................۲۳

۲- د کافرو ښځو د ورېښتانو غوندي د ورېښتانو لنډول او جوړول:..................................................۲۸

۳- د مصنوعي ورېښتانوله خولۍ (ګیس خولۍیاباروکة) څخه استفاده: ................................................ ۳۰

۴- د ورېښتانو یو ډول یا څو ډوله رنګول (مش یا میش):...۳۲

۵- د نوکانو اوږدول او رنګول:..............................۳۳

ب) له نارینه وو څخه د ښځو د تقلید بېلګې: ............... ۳۵
۱- د مردانه کالو اغوستل:.................................. ۳۵
۲- پتلون اغوستل:........................................ ۳٦
د ښځو په ځان جوړولو کي له نارینه وو څخه د تقلید بېلګې: ۳۸
څلورم: له محرماتو څخه ډډه کول.......................... ۳۹
الف) هغه کالي چي اغوستل يې حرام دي: .................. ۳۹
۱- د هغو کالو اغوستل چي د روح لرونکو تصویرونه باندي کښل سوي وي: ........................................ ٤٠
۲- هغه کالي چي بدن نه پټوي:.............................. ٤١
۳- هغه کالي چي په بهرنیو ژبو لیکني پر سوي وي یا حرام تصویرونه پر کښل سوي وي:............................ ٤٦
ب) د ځان جوړولو د حراموالي موارد او وسايل: .............. ٤٧
۱- د وروځو اخیستل:....................................... ٤٧
۲- خالونه وهل: ........................................... ٥٢
۳- د غاښو یو رنګه کول:.................................... ٥٣
۴- له هغي طلا څخه استفاده چي د ځارویو د مجسمې بڼه يې ورکړې وي: ............................................... ٥٥
۵- له هغي طلا څخه استفاده چي د قرآن آیتونه پر کیندل سوي وي: ..................................................... ٥٦
۶- په وریښتانو پوري د نورو وریښتانو تړل: .................. ٥٨
د سر په وریښتانو کي چپه لار ایستل:......................... ٥٩
۷- د سر له پاسه د وریښتانو سره ټولول او تړل: ............ ٦١
۸- د وریښتانو هغه سیخونه چي تصویرونه ولري:........... ٦٢
۹- د سترګو رنګه لینزونه:..................................... ٦٣
۱۰- پای زیبونه: ........................................... ٦٣

۱۱- د جګو کریو (پوندو) لرونکي بوټونه: ..................... ٦٤
۱۲- عطر وهل: ............................................. ٦٦
**په پای کې: ......................................... ۶۸**
**د ژباړن لنډه پېژندنه ........................................ ۶۹**

## مبارک پیل

قَالَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى كَانَ لَهُ مِنْ الْأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ تَبِعَهُ لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا وَمَنْ دَعَا إِلَى ضَلَالَةٍ كَانَ عَلَيْهِ مِنْ الْإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ تَبِعَهُ لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئًا»
رواه الامام مسلم.

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايي: «څوک چې هدايت (سمې لارې) ته بلنه وکړي د هغو ټولو خلکو ثواب ورکول کيږي چې پر دغه هدايت تلنه او کړنه کوي او د هغو له ثوابه هم څه نه‌کميږي. او څوک چې ګمراهۍ ته بلنه وکړي، د هغو ټولو خلکو ګناه چې عمل په‌کوي پرده ليکل کيږي او د عمل‌کوونکو له‌ګنهونو څخه هم څه نه‌کميږي».

# د ژباړن خبرې

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على محمد سيد المرسلين وعلى آله وصحبه وأزواجه أمهات المؤمنين وبعد:

ډېرو درنو او عزتمنو وروڼو او خوندو!

له ډېره مهاله مي په زړه کي وه چي د يوې ښکلي مسلماني کورنۍ د جوړېدو او د مسلمانو مېړه او مېرمني د اړيکو، په تېره د مسلمانو ښځو د کالو او وروځو اخيستلو او ځان جوړولو په هکله او په دې اړه د حل او حرمت په باب زموږ د سپېڅلي دين او ښکلي غرا شريعت احکام را غونډ او د يوه کتاب په بڼه يې تاسي ته د يوې ډالۍ په توګه وړاندي کړم. خو باور وکړئ چي زما بوختياوي، البته د ليکنو او ژباړي په برخه کي دوني زياتي وې چي زه يې دې کار ته نه پرېښوولم. په دې ترځ کي صرف مادوني وکولای سول چي زما د يوه کتاب "زموږ صحت او آخرت ته تاواني توکي" د دوهم چاپ په يوه برخه کي د هغه د موضوعاتو او حجم په پام کي نيولو سره څه څرګندوني وکړم، خو په دې سره مي د دې موضوع د څېړني حق ادا سوی نه باله.

يو وخت په انټرنيټ کي په فارسي ژبه ژباړلو سوو درو داسي کتابونو باندي پېښ سوم چي په دې هکله يې زما د غه هيلي تر سره کولې. نو هغه وو چي دغه کتابونه مي په دې نيت په خپل کمپيوټر کي خوندي کړل چي په يوه مناسب فرصت کي کار ځني واخلم. دغه

کتابونه وه د «البيت السعيد وخلاف الزوجين» فارسي ژباړه «خانوادۀ خوشبخت واختلاف زوجين»، د «النمص بين الشريعة والطب» فارسي ژباړه «برداشتن موى ابرو و صورت از ديدگاه اسلام و پزشکي» او د «النصائح الثمينة لمخالفات المرأة في اللباس والزينة» ژباړه «راهنمايى‌هاى ارزشمند دربارۀ لباس و آرايش زنان». کله چې مي څه فرصت ترلاسه کړ، نو مي دغه کتابونه مطالعه کړل او راته څرګنده سوه چې که دغه درې کتابونه خپاره سي، نو په اړونده موضوع کې بېل کتاب ليکلو ته ضرورت نه ليدل کيږي. ځکه مي نو وپتېيل چې په دې هکله له ځانګړي کتاب ليکلو څخه تېر سم او همدغه کتابونه زما د مسلمانو وروڼو او خوندو د مطالعې او ګټې اخيستني لپاره په پښتو او دري دواړو ژبو خپاره سي. نو هغه وو چې لومړی مي د درو سرو کتابونو اصل په عربي ژبه په کمپيوټر او مکتبۀ شامله کې پيدا کړل، بيا مي درې سره فارسي کتابونه ورسره تطبيق کړل او زموږ په دوديزه دري ژبه مي واړول او تصحيح او ترتيب مي کړل. بيامي درې سره په پښتو ژبه وژباړل، چې دا دی له دغو کتابونو څخه يو يې ستاسي په لاسونو کې دی.

زه د لوی څښتن ﷻ د احسان منندوی يم چې موږ او تاسي ته يې توفيق را کړ چې په دې موضوعاتو کې د دې سپېڅلي دين او شريعت احکام مطالعه کړو او د پلي کېدو لپاره يې هلي ځلي وکړو.

مسلمانو وروڼو او خوندو!

په دنيا کې تر بل هر کار دمخه زموږ د نېکمرغۍ او په آخرت کې زموږ د ژغورني له لاملونو څخه زموږ د دين په چارو کې ژور غور او تفکر، په تېره د واده کولو او د يوې مسلماني کورنۍ د رامنځ ته کولو،

او د اسلامي شريعت سره زموږ د کړو وړو او ځان د برابرولو او سمبالولو په چارو، احکامو او مسايلو کي تأمل او دقت دی.

درنو مسلمانو خوندو!

دغه کتاب (د ښځو د کالو او سينګار په هکله ارزښتناکي لارښووني) په دې اړه د دې ارزښتناک اسلامي تګ لوري ځرګندوونکی دی چي هيله ده د هغه په مطالعه سره خپل لباس، کړه وړه او ځان او کورنۍ د اسلام د زرينو اصولو سره سم سمبال کړئ او موږ له خپلو دعاوو څخه هېر نه کړئ.

وصلى الله وسلم على محمد وآله وصحبه أجمعين.

**ستاسي د دعا وو هيله من**
**عبدالمالک همت،**
**د ده افغانانو نوآباد، کابل، د ۱۳۹۰ل.**
**دوږي د مياشتي اوولسمه**

# سریزه

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، مَن يهده الله فلا مضلَّ له ومَن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلاَّ الله وحده لا شريك له، وأشهد أنّ محمداً عبده ورسوله. ثم أما بعد:

ټولي ثناوي او ستايني لوی څښتنﷻ لره دي، د هغه ستاينه کوو،له هغه څخه مرسته او بخښتنه غواړو. زموږ د نفسونو او بدو عملونو له شره هغه ته پناه وروړو. چا ته چي لوی څښتن لار وښيي، هيڅوک يې نه سي بې لاري کولای، او څوک چي لوی څښتن بې لاري کړي، هيڅوک يې نه سي پر لار کولای.

شاهدي وايو چي له دغه لوی څښتن څخه پرته بل پر حق معبود نسته، دی يو دی او هيڅ شريک نه لري او دغه راز شاهدي وايو چي حضرت محمدﷺ د ده بنده او پيغمبر دی، اما بعد

څرګنده دي وي چي د ښځو له ډېرو ښو او ښکلو ځانګړنو څخه خپل ظاهر او سينګار او آرايش ته د هغو پاملرنه ده، چي دا ځانګړني د کوچنيوالي له مهاله په هغو کي څرګنديږي.

لوی څښتن فرمايي:

﴿أَوَ مَن يُنَشَّؤُاْ فِي ٱلۡحِلۡيَةِ وَهُوَ فِي ٱلۡخِصَامِ غَيۡرُ مُبِينٖ ١٨﴾ [الزخرف: ١٨].

«آيا هغه څوک چي په ګېڼو کي يې پالنه کېږي او په خبرو او استدلال او بحث او مجادله کي (د حيا او شرم او نازکي عاطفې له امله) نه سي کولای

چي خپله موخه په پوره ډول ښکاره او بیان کړي (د لوی څښتن اولاد بولیٔ؟)».

او کله چي د خپل ځان سینګار ته د ښځي پاملرنـه د خپـل میـړه د خوشالولو لپاره وي نـو دا کـار یـې لـوی څښـتنﷻ تـه د نـږدې کیـدو لامل کیږي، لکه چي د ابوهریرهرضي الله عنه په حدیث کي راغلي دي:

سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ النِّسَاءِ خَيْرٌ؟ قَالَ: «الَّتِي تَسُرُّهُ إِذَا نَظَرَ إِلَيْهَا وَتُطِيعُهُ إِذَا أَمَرَ وَلَا تُخَالِفُهُ فِيمَا يَكْرَهُ فِي نَفْسِهَا وَلَا فِي مَالِهِ»[1].

له رسول اللهﷺ څخه پوښتنه وسوه: کومه ښځه ډېره ښه ده؟ ویـې فرمایل: «هغه ښځه چي میړه یې ورته وګوري، خوشـاله یـې کـړي او کله چي میړه د یوه کار د کولو امر ورته وکړي، ویې مني او تـر سـره یې کړي او په هغو مواردو کي چي میړه یې غواړي د دې او د هغـه د شتو په هکله ترسره سي، ښځه د هغو په هکله مخالفت ونه ښیي، که څه هم د دې پر طبع برابر نه وي او نه یې خوښیږي».

مسلماني ښځي او نجوني د مخه تر دې چي د سینګار او کـالو پـه هکله تصمیم ونیسي باید په دې چارو پوري اړوند احکام و څیړي او غور پر وکړي. په تېره په دې زمانه کي چي ناوړه اعمـال زیـات سـوي او بې دیني ډېره دود سوې ده او د ښځو د کالو اغوستلو، د وریښتانو د آرایش موډونه او د سینګار لوازم زښت زیات خپاره سوي دي.

البتـه دې موضـوع تـه ځکـه ارزښـت ورکـول سـوی دی چـي لـوی څښتن په دې اړه زموږ څخه پوښتنه کوي او په دې دنیـا کـي زمـوږ د ټولو کارونو په اړه سوال راڅخه کوي، رسول اللهﷺ فرمایي:

---

۱- احمد او نور او البانی هغه صحیح ګڼلی دی.

«لَا تَزُولُ قَدَمُ ابْنِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ عِنْدِ رَبِّهِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ خَمْسٍ عَنْ عُمُرِهِ فِيمَ أَفْنَاهُ وَعَنْ شَبَابِهِ فِيمَ أَبْلَاهُ وَمَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَ أَنْفَقَهُ وَمَاذَا عَمِلَ فِيمَا عَلِمَ»[١].

«انسان د قیامت په ورځ د پروردګار په وړاندي تر هغو ثابت پاته کیږي، تر څو د پنځو شیانو په هکله پوښتنه ورڅخه کیږي: د عمر په هکله پوښتنه ځني کیږي چي په کومه لار کي دي تېر کړ؟ د ځوانۍ په هکله یې پوښتنه ځني کیږي چي څنګه دي تېره کړه؟ د مال پـه هکلـه یې پوښتنه ځني کیږي چي لـه کـومي لاري دي پـه لاس راوړی وو او په کومه لار کي دي ولګاوه؟ او پوښتنه ځني کیږي چـي پـه خپلـو زده کړو دي څونه عمل کړی دی؟».

بلکـي د ډېـرو کوچنیـو او سـاده مسـایلو پـه هکلـه بـه زمـوږ څخـه پوښتنه وکړي، لکه چي قرآن کریم اشاره ورته کوي:

﴿وَلَتُسۡـَٔلُنَّ عَمَّا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ۝٩٣﴾ [النحل: ٩٣].

«او هرو مرو به ستاسي څخه ستاسي دکړنو په هکله پوښتنه وسي».

یعني لوی څښتن د قیامت په ورځ ستاسـي څخـه ستاسـي د ټولـو کارونو په هکله پوښتنه کـوي او د هغـه سـره سـم بدلـه درکـوي. ان د ډېرو کوچنیو اعمالو په هکله هم پوښتنه کیږي. نو چي د ډېرو کوچنیو چارو په هکله پوښتنه کیږي، نو د ډېرو غټـو مسـایلو پـه اړه بـه څنګـه کړنه کیږي؟

ګراني خوري! دا لیکنه د شرعي کالو او سینګار د احکامو په هکله ده چي باید هغه پر خپلو ځانونو باندي پلي کړو، څو له اوسـنیو ډېـرو

١- الترمذی او البانی هغه صحیح ګڼلی دی.

نـاخوالو څخـه چـي ډېـري ښـځي او خونـدي يـې بـې ارزښـته ګڼـي، خوندي پاته سو.

له لوی څښتنﷻ څخه هيله کوم چي موږ ته د تقوا او پرهېزګارۍ کالي راواغوندي او په ايمان سره مو ښکلي کړي.

همداراز هيله من يو چي زموږ د اعمالو تله زموږ پـه ښـو کړنـو را درنه کړي او تېروتني، ښويېدني او نيمګړتياوي مو راوبخښي.

وصلى الله وسلم على نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين.

## د کالو او سینګار په هکله عام قوانین

په پیل کې باید هغه ډېر مهم اصلي قوانین په ګوته کړو چې په عامه توګه په ژوندانه کې، په تېره د کالو او سینګار په برخه کې د هغو پابند اوسو. دغه قوانین عبارت دي له:

1- د حرامو شتو له په لاس راوړلو څخه ډډه کول.

2- له اسراف څخه پرهېز کول.

3- د نورو له پیروۍ څخه ځان ساتل.

4- له محرماتو څخه پرهېز.

### لومړی: د حرامو شتو له په لاس راوړلو څخه ډډه کول

یوه مسأله چې په ژوند کې باید ډېر ټینګار پر وکړو د حرامو شتو له په لاس راوړلو څخه ډډه کول او لیرې ځنې اوسېدل دي. لکه چې لوی څښتن فرمایي:

﴿وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡخَبَٰٓئِثَ﴾ [الأعراف: ١٥٧].

«هغه (محمد) ددوی لپاره پاک شیان (او هغه چې سلیمه طبعه یې خوښوي) حلالوي او ناپاک شیان (چې د انسان کرکه ځنې کیږي) حراموي».

بلکې د حرامو د په لاس راوړلو پای داوي چې د سړي دعا نه قبلیږي. رسول الله ﷺ فرمایي:

«أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ اللَّهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا وَإِنَّ اللَّهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ».

«اى خلکو! لوى څښتن پاك دى بيله پاکۍ (حلالو) بل څه نه قبلوي. او لوى څښتن مومنانو ته په هغو امر کړى دى چي پيغمبرانو ته يې کړى دى».

لوى څښتن فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُواْ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعۡمَلُواْ صَٰلِحًاۖ إِنِّي بِمَا تَعۡمَلُونَ عَلِيمٞ ٥١﴾ [المؤمنون:٥١].

«اى پيغمبرانو! پاك (حلال) شيان وخورئ او نيك عمل ترسره کړئ. تاسي چي هر څه کوئ زه ښه په پوهيږم».

بيايې دغه آيت و وايه:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡ﴾ [البقرة: ١٧٢].

«اى مومنانو! له هغو پاکو شيانو (له هغو خوندورو او حلالو خوړو) څخه چي موږ ستاسي روزي کړي دي، (څنګه چي مو خوښه وي) خورئ (او څښئ) يې (او د هغو کفارو غوندي مه کيږئ چي حلال حراموي او حرام حلالوي)».

بيا رسولﷺ هغه څوك ياد کړ چي ډير اوږد مزل يې کړى وي او د سفر د کړاوونو له امله يې سر ببر او په دوړو ککړ وي او د دعا لاسونه د آسمان پر لوري پورته کړي او لويه خدايه! لويه خدايه! وايي. په داسي حال کي چي خورا ك او څښاك يې حرام، کالي يې حرام او پوست او وينه يې له حرامو څخه وي، نو د داسي چا دعا به څنګه قبوله سي؟»[1].

---

١ – مسلم كتاب الزكاة، باب قبول الصدقة، ١٠١٥حديث.

نن مهال د حرامو شتو د لاس ته راوړلو لپاره بېلي بېلي لاري سته چي دلته پر هغو ټولو باندي خبري نه سي کېدلای، موږ به يوازي د يوه مورد په يادولو سره بسنه وکړو. چي د نورو په پرتله يې ډېر رواج موندلی دی او هغه سود دی. سود يوه ډېره لويه ګناه او د هلاکوونکو معصيتونو څخه شمېرل کيږي. لکه چي د حضرت پيغمبرﷺ په حديث راغلي دي:

«اجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوبِقَاتِ». وذكر منها: «وَأَكْلُ الرِّبَا»[1].

له اوو هلاکوونکو ګنهونو څخه ډډه وکړئ». چي له هغې جملې څخه يې «سود خوړل» ياد کړي دي.

د ډېر ساده سود ګناه د ډېر کرکي پاروونکي معصيت سره برابره ده. رسول اللهﷺ فرمايي:

«الربا اثنان وسبعون بابا، أدناها مثل إتيان الرجل أمه، وأربى الربا استطالة الرجل في عرض أخيه»[2].

«سود دواويا درجې لري، هغه ډېره کښته درجه يې داسي ده لکه زوی چي د مور سره زنا کوي، او ډېره لوړه درجه يې داسي ده لکه څوک چي د خپل ورور پر ناموس تېری وکړي».

يو ډول سود چي ځيني ښځي په هغه اخته کيږي، د سرو زرو د رانيولو او خرڅولو په وخت کي وي، چي شيخ محمد بن صالح بن عثيمين د دې ډول سود په هکله داسي فتوا ورکړې ده:

---

۱- متفق عليه.

۲- الحاكم او البانی هغه صحيح ګڼلی دی.(اما د دغه حديث په هکله نورو علمای کرامو څرګندوني کړي دي او هغه يې جداً ضعيف بللی دی، همت).

سوال: نن مهال د سرو زرو خرڅوونکي مستعمل سره زر د بېلګې په توګه یو مثقال په درې زره افغانۍ رانیسي او نوي سره زر هر مثقال په څلور زره افغانۍ خرڅوي. د دې مسألې حکم څه دی؟

جواب: زاړه سره زر په نوو سرو زرو بدلول چې باید یو څه پیسې هم د هغو د رانیولو لپاره پر ورزیاتې کړي، جواز نه لري، دا کار حرام او ناروا دی او دا خبره د بلالﷺ له کیسې څخه چې په بخاري او مسلم او نورو کتابونو کې روایت سوې ده جوتیږي:

«حضرت بلالﷺ پیغمبرﷺ ته ډېره ښه خرما وروړه، پیغمبرﷺ ورته وویل: «دا خرما دي له کومه ځایه راوړه؟» بلال ورته وویل: یو څه خرابه خرما مي درلوده، د هغې دوې پیمانې مي د دې ښې خرما پر یوه پیمانه ورکړې چې تاسي یې وخورئ، نو پیغمبرﷺ وفرمایل: «أَوَّهْ أَوَّهْ عَيْنُ الرِّبَا عَيْنُ الرِّبَا لَا تَفْعَلْ»[1].

«اوه، اوه دا کار هیڅ مه کوه، ځکه چې دا بې له شکه کټ مټ سود دی».

پیغمبرﷺ په ګوته کړه چې هغه اضافه (مازاد) څه چې د شیانو د صفاتو د اختلاف په سبب باید د معاملې په وخت کې سره برابر وي،سود دی. او څوک نه سي کولای چې دا کار وکړي، خو رسول اللهﷺ د خپل عادت سره سم بلالﷺ ته مباح لار وښوول او ورته ویې ویل چې خرابه خرما خرڅه کړي او د هغې په پیسو تازه خرما رانیسي.

---

۱- صحیح البخاري.

نو پر دې بنسټ وایم چې: که کومې ښځې زاړه سره زر درلودل یا نورو خلکو له دغه ډول سرو زرو څخه استفاده نه کول، نو باید چې هغه په بازار کې خرڅ کړي او د هغو په پیسو دې هغه سره زر چې خوښ کړي یې دې رانیسي.

دا هغه کړنه ده چې پیغمبرﷺ موږ ته فرمایلې ده[۱].

سوال: چا چې سره زر رانیولي وي او معامله پای ته رسېدلې وي او پیسې یې ورکړي وي، خو یو څه یې پاته وي، نو آیا روا ده چې ولاړ سي او یو ګړی وروسته پاته پیسې له موټر یا بانک څخه راوړي او د پاته پیسو تر راوړلو پوري زر تسلیم نه کړي، آیا دا کار سم دی، یا دا چې د پاته پیسو تر راوړلو وروسته بېرته د معاملې صیغه جاري سي؟

جواب: د پاته پیسو تر راوړلو وروسته د بیې بیا تر سره کول ښه کار دی او دا کار د بیې د صیغې له تکرارېدو پرته بل هیڅ تاوان نه لري، ښه داده چې د زرو د پوره بیې تر راوړلو پوري بیه تر سره نه سي. ځکه چې د پیسو تر بشپړېدو دمخه د بیې د ترسره کېدو لپاره هیڅ دلیل وجود نه لري. والله الموفق[۲].

سوال: د سرو زرو د رانیولو پر مهال د چیک په ورکولو سره معامله څنګه ده، پیسې خو باید د زرو د رانیولو په وخت کې ورکړه سي، خو ځیني خلک بېرېږي چې نه چې ځان مي په خطر کې ونه لوېږي او یا مي پیسې را څخه غلا نه سي، ځکه نو معاملې په چیک ورکولو سره ترسره کوي؟

۱- د«من الأحکام الفقهیة في الفتاوی النسائیة» کتاب، 26مخ.

۲- «الفتاوی الإسلامیة»، (359/2) مخ.

جواب: د سرو او سپینو زرو په پېر او پلور کي جواز نه لري چي معامله په چیک وسي، په دې دلیل چي چیک د پیسو قبض او اخیستل نه بلل کیږي، بلکي چیک یوازي د حوالې یو سند دی. ځکه که هغه چا چي چیک یې اخیستی دی ونه کولای سي چي د چیک پیسي ترلاسه کړي یا چیک ورک سي، نو هغه چاته چي چیک یې ځني اخیستی دی ورځي او د پیسو غوښتنه ځني کوي. اما که پیسې اخیستل سوي وي، نو دا خبره نه رامنځ ته کیږي. په دې هکله نوره څرګندونه داده چي که یو څوک سره زر رانیسي او پیسې یې ورکړي او خرڅوونکی هغه واخلي او بیا هغه پیسې ورکي کړي نو بیا رانیوونکي ته مراجعه نه کوي، خو که یې له رانیوونکي څخه چیک اخیستی وي، څو هغه بانک ته وروړي او پیسې ترلاسه کړي،او په دې ترځ کي چیک ورک کړي یا یې دغه پیسې وانه خیستلای سوې، نو د پیسو د ترلاسه کولو لپاره رانیوونکي ته ورځي او پیسې ځني غواړي، نو له دې څخه څرګنده سوه چي چیک د پیسو اخیستل نه بلل کیږي او که د زرو بیه نه وي اخیستل سوې بیا د چیک په وسیله پېر او پلور سم نه دی. ځکه چي رسول اللهﷺ لارښوونه کړې ده چي د سرو او سپینو زرو رانیول او خرڅول دي لاس په لاس وي. خو که چیک د بانک له لوري تایید سوی وي یا خرڅوونکی د بانک سره اړیکه ونیسي او ورته ووایي چي بانک دي دغه پیسې ده ته د امانت په توګه وساتي او ډاډه سي چي په بانک کي د رانیوونکي دغه پیسې سته، په دې صورت کي اجازه لري چي چیک ومني والله اعلم[1].

۱- د «الفتاوی الإسلامیة» کتاب، (360/2) مخ.

سوال: کله چي رانیـوونکی سـره زر رانیسـي او یـوه انـدازه بیـه یـې پلورونکي ته ورکړي، نو پلـورونکی ورتـه ووایـي چـي د ټـولي بیـي د راکولو تر مهاله دي زر زما څخه وي او زر رانیوونکي ته نـه ورکـوي، نو د دې نه ورکولو حکم څنګه دی؟

جواب: دا کار جایز نه دی، ځکه هر کله چي سره زر خرڅ سـول، دا د پېر او پلور له شرایطو څخه دي چي جنس له خرڅوونکي څخـه رانیوونکي ته ولېږدول سي، داچي خرڅوونکی جنس رانیوونکي ته نه ورکوي دا کار حرام دی. بلکي خرڅوونکی باید بشپړي پیسې ترلاسه کړي، بیا رانیوونکی اختیار لري چي زر د پلـورونکي سـره ایـږدي او که یې اخلي، خو که رانیوونکی یوه اندازه پیسې په ګـرو خرڅـوونکي ته کښېږدي چي هغه زر پر بل چـا خـرڅ نـه کـړي او رانیـوونکی ولاړ سي او پاته پیسې راوړي او بیا د بیي تړون (عقد) ترسره کړي، دا کار جایز دی. ځکه چي د پیسو تر حاضرولو دمخه هـیڅ بیـه نـه تـر سـره کیږي[١].

سوال: څوک چي سره زر رانیسي او د هغو د بیي یوه انـدازه ورنـه کړي او ورته ووایي چـي پاتـه پیسـې هـر وخـت چـي پیـدا کـړم درتـه راوړم یې، نو د دې حکم څه دی؟

جواب: دا کار جایز نه دی او که دا کار تر سره کړي، نو دا عمل د مـورد معاملـه شـي د ټـولي بیـي د یـوه مبلـغ پـه مقابـل کـي چـي لـه رانیوونکي څخه یې اخلي صحیح دی، او دپاته بیي په هکلـه چـي لـه

١- پورتنی مأخذ (360/2)مخ.

رانيوونکي څخه يې نه ده اخيستې صحيح نه دی،ځکه رسول اللهﷺ د سرو او سپينو زرو د پېر او پلور په هکله فرمايلي دي:

«بِيعُوا كَيْفَ شِئْتُمْ إِذَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ».

«که د سرو او سپينو زرو رانيول او خرڅول لاس په لاس وي، هر ډول چې وغواړئ هغسې يې رانيسئ او خرڅ يې کړئ»[١].

نو زما مسلماني خور! پام کوه چې شته دي د سود له بېلو بېلو ډولونو څخه په هيڅ يوه ککړ نه سي. او په ياد دي وي چې ښايي د قيامت په ورځ ستا څخه ستا د شتو د په لاس راوړلو او مصرفولو د لارو په هکله پوښتنه وسي. دا هغه ورځ ده چې په هغې کي شته او اولادونه هيڅ په درد نه خوري، مګر دا په درد خوري چې څوک د لوی ښښتن دربار ته په ډاډه زړه حاضر سي، لکه چې په هغه حديث کي چې دمخه ذکر سو راغلي دي:

«... وَمَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَ أَنْفَقَهُ».

«... او د هغه د شتو په هکله له هغه څخه پوښتنه کيږي چې له کومه يې په لاس راوړي دي او په کومه لار کي يې لګولي دي».

نو آيا تا دې پوښتني ته کوم جواب چمتو کړی دی؟

## دوهم: له اسراف څخه پرهېز کول

د اسلام د سپېڅلي دين له اصلي قوانينو څخه چې زموږ په ژوند کي بايد د هغه سره سم عمل وکړو يو هم منځ لاري او د ژوندانه په

---

١ - مخکنی مأخذ، (361/2)مخ.

ټولو برخو کې، په تېره په کالو اغوستلو او ځان جوړولو کې له اسراف او بې ځايه لګښت څخه ډډه کول دي.

زموږ خپل حالت ته په سرسري کتو سره له بده مرغه وينو چې له موږ څخه ډېر د هغو بهرنيو کالو په رانيولو غوليږي چې بهرني مارکې ولري او ډېر بيي وي. تر دې چې له موږ څخه د ډېرو خلکو عادت سوی دی چې د ورځې له موډ څخه پيروي کوي او په هره بيه چې وي د دغو مارکو درلودونکي کالي رانيسي. څرګنده خبره ده چې د کالو په رانيولو کې اسراف د نورو زينتي شيانو په رانيولو کې هم د اسراف لامل کيږي. دغه سبب دی چې د سرو زرو، جواهراتو، ساعتونو او نورو تجملي توکو د دکانونو او مغازو مراجعين او رانيوونکي دوني ډېر سوي دي چې دمخه يې سابقه نه درلوده.

بلکې په موږ کې داسې ډېرکسان سته چې د هرو کالو لپاره د هغو سره متناسب او ورته جواهر او نور رانيسي او هر نوي کالي په يوه مناسبت (واده او داسې نورو کې يوه پلا) اغوندي او بيا يې نه اغوندي، تر دې چې د کالو موډونه او تزئينات دونه ډېر سوي دي چې پر دغسې کسانو دوني ډېر او درانه سي چې اغوستونکې يې د هغو د اغوستلو او په ځان ځړولو او وړلو توان نه لري! نو ای زما مسلماني خور! تا دا فکر کړی دی چې موږ په دې نړۍ کې د مسافرو غوندې يو؟

کله چې سلمانؓ د مرګ پر بستر پروت وو ويې ژړل او ويې ويل: رسول اللهﷺ موږ ته يوه دنده سپارلې وه، خو موږ هغه تر سره نه کړه، او هغه دنده داوه چې موږ هر يو بايد د دنيا له شتو څخه دوني ولرو چې د يوه مسافر د توښې په اندازه وي. بيا د حديث

روایت کوونکي وویل: موږ چي له سلمان څخه په میراث پاتـه سـوي شته وسنجول، بیه یې څه له پاسه شل یا دېرش درهمه وه[۱].

کاشکي موږ پوهېدلای چي مـوږ چیـري یـو او هغـه صـحابيﷺ چیري دی؟ او څونه شته تر مړیني وروسته راڅخه پاتیږي؟ او تر څـو به د غفلت په خوب بیده یو؟ نو ای ګرانه لوستونکې آیا تا فکر نه دی کړی چي دا شته امانت دي چي زموږ غاړي ته یې را اچولي دي او د قیامت په ورځ چي د حسـرت او پښـېمانۍ ورځ ده لـه مـوږ څخـه د هغو په هکله پوښتنه کیږي.

کله چي له شیخ عبدالعزیز بن بـاز څخـه پوښـتنه وسـوه چـي: آیـا صحیح ده چي انسـان د قیامـت پـه ورځ د هغـو کـالو پـه هکلـه چـي اغوندي یې پوښتل کیږي؟

هغه جواب ورکړ: هو، لکه چي په حدیث شریف کي راغلـي دي، له انسان څخه د هغه د شتو په هکله چي له کومه یـې کـړي دي او پـه کومه لار کي یې لګولي دي پوښتنه کیږي[۲].

له شیخ ډاکټر صالح فوزان ـ حفظه الله ـ څخه وپوښتل سوه چي: ځیني ښځي په دې دلیل چي لوی څښـتن خوښـوي چـي ووینـي چـي بنده ګان یې له نعمتونو څخه ګټه اخلي، د خپلو کـالو او جـواهرو پـر رانیولو باندي ډېري پیسې لګوي، تاسي په دې هکله څه وایاست؟

هغه داسي جواب ورکړ: چـا تـه چـي لـوی څښـتن حـلال شـته ور کړي وي، نو هغه ته یې داسي یو نعمت ورکړی دی چي باید شکر پر وکاږي. چي دا کار د ده له شتو څخه په ورکړه او بخشش او په داسي

---

۱- د احمد مسند، (438/5)مخ.

۲- د«فتاوی المرأة» کتاب 164 مخ.

خوړلو او اغوستلو کیږي چې د اسراف او ویاړ (فخر) لـه مخې نـه وي. ځینې ښځې چې د شیانو په رانیولو کې اسراف کـوي، دلیـل یـې بې له فخرکولو او د شیانو د جوړوونکو او خرڅوونکو له اعلانونو او تبلیغاتو پرته بل څه نه دی. چې دا هرڅه اسراف او د شـتو بـې ځایـه لګښت دی چې له داسې چارو څخه په اسلام کې منـع راغلـې ده. پـر مسلمانه ښځه واجب دي چې په دې هکله منځ لارې غـوره کـړي. او په ځان جوړولـو کـې، پـه تېره کلـه چـې لـه کـوره وزي پـه سـینګار او آرایش کې له افراط څخه ډډه وکړي[1].

زما درنې خور! د مخه تر دې چې تصمیم ونیسې چې ډېـر بیـې او ښه کالي او جواهر رانیسې د حضرت رسول اللهﷺ دا وینا په پام کـې ونیسه چې فرمایي:

«مَنْ تَرَكَ اللِّبَاسَ تَوَاضُعًا لِلَّهِ وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَيْهِ دَعَاهُ اللَّهُ يَـوْمَ الْقِيَامَـةِ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ مِنْ أَيِّ حُلَلِ الْإِيمَانِ شَاءَ يَلْبَسُهَا»[2].

«څوک چې د لوی څښتن په وړانـدې د تواضـع پـه خـاطر د ځینـو کالو له اغوستلو څخه ډډه وکړي، په داسې حال کې چې کولای سـې چې هغـه واغونـدي، لـوی څښـتن بـه هغـه د قیامـت پـه ورځ د ټولـو مخلوقاتو له منځ څخه راوبولي او اجازه بـه ورکـړي چـې د ایمـان لـه کالو څخه چې کوم یو خوښوي، واغوندي».

تل باید دا ټکی په پام کې ولرو چـې د کـالو او زینتـې وسـایلو او د ژوند د نورو اړتیاوو د تر حد زیاتو رانیولو لپـاره د ډېـرو پیسـو لګـول

---

۱- «الفتاوى الجامعة للمرأة المسلمة»، (901/3) مخ.

۲- الترمذی او نور او البانی هغه حسن ګڼلی دی.

بې له اسرافه بل څه نه بلل کيږي چې لوی څښتن په قرآن کريم کې مونږ له هغه څخه داسې منع کړي يو:

﴿إِنَّ ٱلْمُبَذِّرِينَ كَانُوٓاْ إِخْوَٰنَ ٱلشَّيَٰطِينِ ۖ وَكَانَ ٱلشَّيْطَٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورًا ﴿٢٧﴾﴾ [الإسراء: ٢٧].

«بې ځايه لګښت کوونکي (اسراف کوونکي) د شيطانانو وروڼه دي (ځکه چې د لوی څښتن د نعمتونو ناشکري کوي) او شيطان د خپل پروردګار په وړاندې ډېر ناشکره وو (او خپل ټول وس يې په ورانې او له لوی څښتن څخه په سرغړونه کې تېراوه. اسراف هم ورانی او سرغړونه باله سي، له هغه څخه ډډه وکړئ چې د شيطانانو غوندې نه سئ او د هغو سره په آخرت کې دوږخ ته وانه چول سئ)».

نو ښايي چې دمخه تر دې چې زمونږ د اعمالو څېړنه وکړي، مونږ خپله بايد خپل اعمال وڅېړو او هڅه وکړو چې نفس ته د خپلو چارو واګې ونه سپارو، غوښتني يې ونه منو او د دنيا د ژر تېرېدونکو خوندونو څخه تېر سو.

بايد تل د رسول اللهﷺ دا حديث په ياد ولرو:

«يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ تَصَدَّقْنَ وَلَوْ مِنْ حُلِيِّكُنَّ فَإِنَّكُنَّ أَكْثَرُ أَهْلِ جَهَنَّمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[1].

«ای ښځو خيراتونه ورکړئ، که څه هم ستاسې له ګېڼو څخه وي. ځکه چې د قيامت په ورځ زياتره دوږخيان تاسې ياست».

---

١ - احمد او البانی هغه صحيح ګڼلی دی.

## دریم: د نورو له پیروۍ څخه ډډه کول

که د دې برخې ارزښت تر دوو مخکنيو برخو زيات نه وي کم هم نه دی. له دې څخه موخه داده چې نه په باطن کي او نـه پـه ظـاهره د نورو پيروي او پيښې و سي. ځکـه چي دا کـار حـرام دی، لکـه چـي رسول اللهﷺ فرمايي:

«مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ»[1].

«څوک چي د يوه قوم سره ورته او مشابه سي، نـو لـه هغـو څخـه ګڼل کيږي».

تقليد دوه ډوله دی:

الف) د هغه چا سره چي مسلمان نه وي مشابهت.

ب) ځان د نارينه وو په بڼه جوړول.

**الف) د هغه چا سره چي مسلمان نه وي مشابهت:**

د مسلمانانو د روحـي مـاتي لـه پـايلو څخـه چـي نـن مهـال ډېـري ښځي او نجوني لاس او پښې ورسره وهي، د ژوند په بېلو بېلو برخـو کي د کفارو سره په ورته کېدو او مشابهت اخته کېدل دي. چي له دې جملې څخه تر ټولو څرګند ډول يې: کالي او سينګار دی.

البتـه کـومي خبـري تـه چـي بايـد دلتـه ډېـر پـام ورواړوو داده چـي ظاهري تقليد او ورته والی کرار کرار په باطني تقليد اوړي، لکـه چـي

---

۱- دغه حديث احمد او ابوداود روايت کړي دي او علامه الباني صحيح بللی دی.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله[1] اشاره ورته کړې ده چې د ظاهري تقلید له ثمرو څخه په تدریجي توګه په زړه کي د میني او محبت رامنځ ته کېده دي. چې په دې صورت کي د ایمان او عقیدې په سکښت کي د دوستۍ او صداقت قیدونه یو په بل پسې له منځه ځي. په داسي حال کي چې د لوی څښتن لپاره دوستي او محبت او کرکه او تنفر د ایمان له جوړوونکو عواملو څخه باله سي. رسول الله ﷺ فرمايي:

«أَوْثَقَ عُرَى الْإِيمَانِ أَنْ تُحِبَّ فِي اللَّهِ وَتُبْغِضَ فِي اللَّهِ»[2].

«د ایمان له پیاوړو نخښو څخه د لوی څښتن لپاره دوست ګڼل او د هغه د رضا لپاره کرکه کول دي».

نو د لوی څښتن لپاره دوست بلل باید هر هغه چاته شامل سي چې د توحید په کړۍ کي داخل وي، او د خدای لپاره متنفر کېدل د هغه چا په هکله وي چې په هر مهال او ځای کي د ایمان له کړۍ څخه وزي.

د کالو په هکله له کافرانو څخه د ښځو د تقلید له بېلګو څخه چې اسلامي امت په اخته سوی دی او په دې وروستیو کي د پېغلو نجونو په منځ کي څرګند سوی دی، د والنتاین کشیش په نامه د میني او عشق د جشن د لمانځلو په مناسبت د فرورۍ په څوارلسمه د سور رنګو کالو اغوستل او د سرو ګلانو تبادله ده، چې د دې ټول جزئیات او کلیات حرام دي. ځکه چې دا د کفارو د جشن سره شباهت لري.

---

۱- په دې هکله د زیاتو معلوماتو لپاره «اقتضاء الصراط المستقیم» کتاب ته مراجعه وکړئ.

۲- مصنف ابن ابي شیبة او علامه الباني صحیح بللی دی.

شيخ الاسلام ابن تيميه د کفارو د جشنونو ډول ډول بڼې چې مسلمانان په اخته کيږي توضيح کړي دي او وايي:

مسلمانانو ته روا نه ده چې له کغارو څخه په داسي چارو کې چې د هغو په اخترونو پوري اړه لري، تقليد وکړي. دغه راز مسلمانانو ته نه ښايي چې د هغو له خوړو، کالو، ځان پريوللو او اور لګولو څخه تقليد وکړي او د خپل ژوندانه او عبادتونو دوديزو چارو ته بدلون ورکړي، او د هغو غوندي خوشالۍ وکړي او يو بل ته سوغاتونه ورکړي. دغه راز د هغو شيانو خرڅول چې کفار د دغسي چارو لپاره ګټه ځني اخلي حرام دي. همدا شان هغو لوبو ته د ماشومانو هڅول چې کفار يې په دغسي ورځو کې کوي او د هغو غوندي ځان جوړول هم حرام دي[1].

په عامه توګه ښه داده چې موږ په خپل دين وياړو او په ظاهر او باطن کې پر خپل اسلامي شخصيت متکي واوسو او د هغو کفارو له کړو وړو څخه چې د ټلويزيون پر پرده يا د مجلو پر پاڼو څرګنديږي پيروي ونه کړو.

شيخ محمد بن صالح بن عثيمين وايي: د کالو له مجلو څخه بايد پيروي ونه سي او کومي مجلې چې د کالو موډونه او ډولونه ښيي بايد سانسور سي، ځکه چې د هر ډول کالو اغوستل حلال نه بلل کيږي،او دا ډول کالي د هغو د تنګ والي او .... له امله د عيبونو او د بدن د ښکاره کېدو لامل کيږي او له هغو کالو څخه دي چې په کفارو

۱- «مجموع الفتاوی» کتاب، (329/25).

اړه لري. او لکه چي پوهيږو رسول اللهﷺ فرمايلي دي: د کفارو سره مشابهت او د هغو تقليد حرام دی.

«مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ».

«څوک چي د یوه قوم سره ورته او مشابه سي، نو له هغو څخه ګڼل کيږي».

زه ټولو مسلمانانو ته په عامه توګه او خپلو مسلمانو خوندو ته په ځانګړې توګه سپارښتنه کوم چي ښه داده چي د دغسي کالو له اغوستلو څخه ډډه وکړي. ځکه دا له کافرانو څخه تقليد باله سي او د بدن د ځينو برخو د ښکاره کېدو لامل کيږي. د ورځي د موډ کالوته د ښځو مخه کول غالباً زموږ د آدابو او دودونو د له منځه تلو لامل ګرځي. په داسي حال کي چي زموږ دين د نورو، په تېره د کفارو له آدابو او دودونو څخه پيروي حرامه کړې ده[1].

**د ځان په جوړولو کي له کفارو څخه د تقليد نخښي**

له دې جملې څخه لاندي موارد د مثال په ډول د يادولو وړ دي:

**۱ – تر واده دمخه په ښي لاس د واده د چلې (حلقې، ګوتمی) په ګوته کول او د واده په شپه د هغې دکينې لاس ګوتي ته لېږدول:**

دا په اصل کي د عېسويانو يو پخوانی دود دی . په دې توګه چي زوم د واده چله (حلقه) د ناوي د کينې لاس په بټه ګوته کوي او وايي:د پلار په نامه، بيا هغه د ناوي دشهادت په ګوته کوي او وايي: د زوی په نامه. بيا هغه د هغې په منځنۍ ګوته کوي او وايي: د روح

---

۱- د شيخ د فتوای يوه برخه د «الفتاوى الجامعة للمرأة المسلمة»، په (861/3) مخ کي.

القدس (د مسيحيانو په اصطلاح دريېم اقنوم) په نامه. او کله چې يې آمين ووايه، وروسته چله د هغې د انګشترۍ په ګوته کوي[1].

دوی په ګينې لاس د ګوتمۍ د په ګوته کولو لپاره دا دليل وايي چې د انسان د وينو يو رګ چې سيده د زړه سره وصل دی، په دغه لاس کې دی[2].

دا د ډېري خواشينۍ ځای دی چې له موږ څخه ډېری په دې دود چې هيڅ اسلامي بنسټ نه لري خپل ځانونه مکلف ګڼي او لکه چې ومو ويل دا کار د نصاراوو له ډېرو اصلي او باطلو اعتقاداتو څخه دی.

ښايي څوک ووايي چې زما موخه ـ العياذ بالله ـ د دې باطلو اعتقاداتو پيروي نه ده، بلکې دا يوازې يو اجتماعي عادت دی.

په جواب کې يې وايم: آيا په قرآن او سنتو کې داسې څه سته چې د چلې د استعمالولو مشروعيت ثابت کړي؟ آيا د رسول الله ﷺ مېرمنو او لوڼو او د صحابه وو رضي الله عنهم مېرمنو دغه کار کړی دی؟

آيا موږ ته نه دي ويل سوي چې د کافرانو سره په خپلو کړو وړو او ژوندانه کې مخالفت وکړو؟ لوی ښتن فرمايي:

---

١- د انګشترۍ ګوتي ته په عربي بُنْصُروايي. هغه ګوته چې د منځوۍ او خچڼې (کوچنۍ) ګوتي ترمنځ ده.

٢- په دې هکله د زياتو معلوماتو لپاره د شيخ الباني د «آداب الزفاف» کتاب، 123، مخ وګورئ.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلْيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوْلِيَآءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ۝٥١﴾ [المائدة: ۵۱].

«اى مومنانو! يهوديان او عيسويان خپل ملګري مه نيسئ (او خپل سرپرستان او کالخوايان يې مه ګڼئ)، دوى په خپلو منځو کي سره ملګري دي (او ستاسي سره په دښمني کي يوموټى دي)، او که له تاسي څخه څوک هغوى خپل ملګري نيسي، نو بيا هغه هم په هغو کي شمېرل کيږي، په دې کي شک نسته چي الله ظالمان له خپلي لارښووني څخه بې برخي کوي».

کله چي دا ټولنيز عادت شرعي بنسټ ونه لري، نو په حقيقت کي د کفارو له دودونو او رسمونو څخه اخيستل سوى دى. په دې صورت کي درسته نه ده چي دا عادت زموږ وبلل سي او موږ ته روا نه ده چي پيروي ځني وکړو، ځکه پيغمبرﷺ فرمايي:

«مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ».

«څوک چي د يوه قوم سره ورته او مشابه سي، نو له هغو څخه ګڼل کيږي».

دغه راز رسول اللهﷺ فرمايي:

«لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا لَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ وَلَا بِالنَّصَارَى...»[1].

«څوک چي له موږ څخه پرته د نورو تقليد کوي له موږ څخه نه دى،له يهودو او نصاراوو څخه تقليد مه کوئ....».

۱- د هغه حديث يوه برخه چي ترمذي تخريج کړى دى او الباني حسن ګڼلى دى.

د شيخ عبدالعزيز بن باز په فتاوی کې له چلې څخه د استفادې په اړه داسې راغلي دي:د دې کار لپاره په شريعت کې کوم بنسټ شتون نه لري او پرېښوول يې غوره کار دی. البته فرق نه کوي چې چله د سپينو زورو وي که د نورو[١]. بلکې له چلې څخه استفاده تر دې کچې خطرناکه کار دی چې ممکن د شرک تر پولې ورسيږي.

علامه شيخ محمد بن صالح بن عثيمين ويلي دي:

«د نارينه وو او ښځو لخوا له چلې څخه استفاده يو بدعت دی او ښايي له حرامو چارو څخه وي. په دې دليل چې ځينې خلک په دې باور دي چې چله د مېرمنې او مېړه ترمنځ د مينې او محبت د ادامې لامل ګرځي. همدا راز ويل کيږي چې ځينې کسان د مېړه پر ګوتمۍ باندې د مېرمنې نوم او د مېرمنې پر ګوتمۍ باندې د مېړه نوم ليکې ګواکې په دې سره غواړي چې د هغو په منځ کې مينه زياته سي، چې دا د شرک له ډولونو څخه يو ډول دی. ځکه دوی پر يوه داسې چاره اعتقاد پيدا کړی دی چې لوی څښتن هغه نه په تقدير او نه په شريعت کې کومه وسيله ګرځولې ده. بيا نو د دې ګوتمۍ او د دوستۍ او مينې تر منځ څه اړيکه سته؟

داسې ډېر مړونه او مېرمنې سته چې دغسې چلې او ګوتمۍ لري، خو په خواره خوارې او کړاوونو اخته دي، نو د دې فاسدې عقيدې پر بنسټ چله يا ګوتمۍ په ګوته کول د شرک يو ډول دی. ان که چله د دې عقيدې پر بنسټ هم نه په ګوته کوي بيا هم دا کار له کفارو څخه تقليد دی. په دې دليل چې چله له نصاراوو څخه اخيستل

---

١- د شيخ په «فتاوی إسلاميه» کتاب کې د فتوا يوه برخه، (250/4) مخ.

سوې ده. پر دې بنسټ پر مسلمان واجب ده چې له هر هغه شي څخه چې د هغه په دين کي د خلل لامل کيږي پرهيز وکړي»[١].

---

١- د شيخ په «فتاوى إسلاميه» کتاب کي د فتوا يوه برخه ، (250/4) مخ.
په دې هکله د پښتو ژباړن څرګندوني:
پورتنۍ فتوا غوندي فتوا وي، حکمونه او څرګندوني په نورو ډېرو کتابونو کي او د مصر د ازهر پوهنتون په فتاواوو کي هم راغلي دي. پر دې سربېره که چله يا ګوتمۍ د سرو زرو وي نارينه ته يې په ګوته کول د رسول الله ﷺ د صحيحو احاديثو له مخي هم حرام کار دی. په دې هکله د ازهر پوهنتون لاندي فتوا د بېلګې په توګه رااخلو:
دبلة الخطوبة: المفتي عطية صقر.
السؤال:هل صحيح أن دبلة الخطوبة بدعة وحرام؟
الجواب:خاتم الخطوبة أو الزواج له قصة ترجع إلى آلاف السنين، فقد قيل: إن أول من ابتدعها الفراعنة، ثم ظهرت عند الإغريق [اليونانيون]، وقيل: إن أصلها مأخوذ من عادة قديمة، هى أنه عند الخطبة توضع يد الفتاة فى يد الفتى ويضمهما قيد حديدى عند خروجهما من بيت أبيها، ثم يركب هو براده وهى سائرة خلفه ماشية مع هذا الرباط حتى يصلا إلى بيت الزوجية، وقد تطول المسافة بين البيتين، ثم أصبحت عادة الخاتم تقليدا مرعيا فى العالم كله.
وعادة لبسها فى بنصر اليسرى مأخوذة عن اعتقاد الإغريق أن عرق القلب يمر فى هذا الإصبع، وأشد الناس حرصا على ذلك هم الإنجليز وقيل: أن خاتم الخطوبة تقليد نصراني.
والمسلمون أخذوا هذه العادة، بصرف النظر عن الدافع إليها، وحرصوا على أن يلبسها الطرفان، ويتشاءمون إذا خلعت أو غير وضعها، وهذا كله لا يقره الدين.والمهم أن نعرف حكم لبسها.
أما اللبس فى حد ذاته فليس محرما حيث لم يرد نص فى التحريم، ولم يقصد التشبه بالكفار، فالتشبه ممنوع وبخاصة إذا كان فى معنى دينى لا يرضاه الإسلام، ثم نقول: إن كانت الدبلة من فضة فلا بأس بها للرجال والنساء، أما إن كانت من ذهب فهى حرام على الرجال حلال للنساء، وذلك لعدة أحاديث وردت فى ذلك، منها حديث رواه الترمذى بإسناد حسن «حرم لباس

**۲ – د کافرو ښځو د ورېښتانو غوندي د ورېښتانو لنډول او جوړول:**

يو له هغو مسايلو څخه چي زموږ د ښځو په منځ کي دود سوي دي د ورېښتانو لنډول دي، او عالمانو د هغو په هکله نظرونه ورکړي دي، خو ټول پر دې باندي په يوه خوله دي چي له کفارو څخه د تقليد په موخه د ورېښتانو لنډول حرام دي. له شيخ صالح فوزان ـ حفظه الله ـ څخه له لوېديځو هيوادونو څخه د راغلو موډونو پر بنسټ د ورېښتانو د لنډولو او جوړولو د حکم په هکله پوښتنه وسوه، هغه داسي جواب ورکړ:

که د ورېښتانو لنډول د کافرو او فاسقو ښځو د تقليد په موخه وي، په حراموالي کي يې شک نسته. هر څونه چي دا کار په مسلمانو ښځو کي دود سوی هم وي. ځکه چي اصل يې هماغه له کفارو ښځو څخه تقليد دی. او د دې کار دودېدل هغه نه رواکوي ځکه چي رسول اللهﷺ فرمايي:

«مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ»[1].

«څوک چي د يوه قوم سره ورته او مشابه سي، نو له هغو څخه ګڼل کيږي».

---

الحرير والذهب على ذكور أمتى وأحل لإناثهم » وحديث مسلم «ونهأنا عن خواتم – أو عن تختم – بالذهب» وحديثه أيضا «يعمد أحدكم إلى جمرة نار فيجعلها فى يده»؟ وذلك عندما رأى خاتما من ذهب فى يد رجل، فنزعه فطرحه. ومن أراد التوسع فى معرفة تاريخ الدبلة والباعث عليها والعبارات المكتوبة عليها وغير ذلك فليرجع إلى الجزء الأول من كتابنا «موسوعة الأسرة تحت رعاية الإسلام».

۱ – دغه حديث احمد او ابوداود روايت کړي دي او علامه الباني صحيح بللی دی.

او فرمايي ﷺ:

«لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا...».

«څوک چي له موږ څخه پرته د نورو تقليد کوي له موږ څخه نه دی....».

او عامه او کلي قاعده داده چي د کفارو هر دود چي وي تر سره کول يې له هغو څخه د تقليد په موخه جواز نه لري. ځکه چي په ظاهر کي له کفارو څخه تقليد په باطن کي د هغو سره د ميني او محبت نخښه باله سي، او لوی څښتن فرمايي:

﴿وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥١﴾﴾ [المائدة:٥١].

«او که له تاسي څخه څوک هغوی (يهود او نصارا) خپل ملګري نيسي، نو بيا هغه هم په هغو کي شمېرل کيږي، په دې کي شک نسته چي الله ظالمان له خپلي لارښووني څخه بې برخي کوي».

او له هغو څخه پيروي له هغو څخه د ښه راتلو له امله وي. او د هغو سره د دوستۍ له نخښو څخه د هغو تقليد باله سي[1].

شيخ صالح فوزان ـ حفظه الله ـ په يوه بله فتوای کي په تفصيل سره ويلي دي:

«ښځي ته جايزه نه ده چي د شالخوا وربښتان لنډ کړي او د سر د دواړو خواوو وربښتان اوږده کړي. ځکه چي دا کار د وربښتانو د بد ايسېدلو لامل کيږي او چټي کار باله سي. دا په دې چي وربښتان د

---

١ – د شيخ فوزان ـ حفظه الله ـ د فتوا يوه برخه، د «فتاوی المرأة المسلمة» کتاب په (516/2) مخ کي.

ښځې د ښکلا یوه برخه ده او دا چټې کار له کافرو ښځو څخه د پیروۍ له مخې دی. همدا راز د هغو ډول ډول موډونو له مخې د ورېښتانو لنډول چې د ښځو یا ځارویو په نامه نومول سوي دي جواز نه لري. لکه د (ډیانا) کافرې ښځې د سر غوندې د ورېښتانو جوړول یا د دوو نورو موډونو سره سم ورېښتان جوړول چې د یوه زمري او یو ډول مورږک په نامه نومول سوي دي. د ورېښتانو په موډکې د کافرو ښځو او ځارویو څخه تقلید ځکه حرام دی چې د ښځې د ورېښتانو په هکله چې د ښځې د ښکلا یوه برخه بالـه سي، یو چټې کار دی»[1].

**۳– د مصنوعي ورېښتانوله خولۍ (ګیس خولۍیاباروکۀ) څخه استفاده:**

د هغو مواردو له جملې څخه چې د ښځو د ورېښتانو د ښکلا لپاره ګټه اخیستنه ځنې منع سوې ده، د مصنوعي ورېښتانو له خولۍ (باروکة) څخه استفاده ده. د مصنوعي ورېښتانو له خولۍ څخه ځینې مېرمنې ګټه اخلي، او بېلابېل ډولونه او رنګونه لري، او څوک چې هغه ویني ګومان کوي چې طبیعي ورېښتان دي. ځنګه چې دا مورد هم د نامسلمانو ښځو څخه د تقلید په جمله کې راځي، که څه هم دا کار د مېړه لپاره د ځان جوړولو په موخه وي بیا هم حرام دی، لکه چې (د سعودي عربستان) د افتاء د ستري ډلې په فتوا کې راغلي دي:

سوال: د مېړه لپاره د ځان جوړولو په موخه د مصنوعي ورېښتانو له خولۍ څخه د ښځې د ګټې اخیستنې حکم څنګه دی؟

---

۱– د شیخ فوزان ـ فتوا د «فتاوی المرأة المسلمة»کتاب په (517/2) مخ کې.

جواب: مېږه او مېرمني دواړو ته په کار ده چي په هغو شيانو چي دواړه يې خوښوي او د هغو په منځ کي علاقه زياتوي خپل ځانونه ښايسته کړي، خو دا چاري بايد په هغو حدودو کي وي چي اسلامي شريعت يې مباح بولي، نه په هغو شيانو چي حرام دي. د مصنوعي وربښتانو له خولۍ څخه ګټه اخيستنه په نامسلمانو ښځو کي دود سوې ده او دغه ښځي له هغې څخه په استفاده کولو او ځان ښايسته کولو کي شهرت لري، تر دې چي د هغو د ظاهر او قيافې يوه برخه ګرځېدلې ده. نو مسلماني ښځي ته له دغسي مصنوعي وربښتانو څخه ګټه اخيستل او په هغو سره ځان سينګارول که څه هم د مېړه لپاره وي بيا هم له کافرو ښځو څخه تقليد دی او پيغمبرﷺ هغه منع کړی دی، لکه چي فرمايي:

«مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ».

«څوک چي د يوه قوم سره ورته او مشابه سي، نو له هغو څخه ګڼل کيږي».

او دغه لارښوونه په وربښتانو پوري د نورو وربښتانو د نښلولو او تړلو په هکله زيات شدت مومي ځکه چي پيغمبرﷺ هغه منع کړی او څوک چي دغه کار کوي لعنت يې پر ويلي دی»[1].

---

١- «فتاوى الحجاب واللباس والزينة للمرأة المسلمة» 68 مخ.

**۴– د وړېښتانو یو ډول یا څو ډوله رنګول (مش یا میش):** [۱]

یو له هغو موارد و څخه چي د ښځو په ټولنه کي یې دود موندلی دی د وړېښتانو په بېلابېلو ډولونو او رنګونو رنګول دي.

کوم څه چي په دې هکله مشروع باله سي، له تور رنګه پرته په نورو رنګونو د سپینو وړېښتانو، رنګول دي لکه چي پیغمبرﷺ فرمایي:

«غَيِّرُوا الشَّيْبَ وَلَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ وَلَا بِالنَّصَارَى»[۲].

«د سپینو وړېښتانو رنګ ته بدلون ورکړئ او په دې کار کي له یهودو او نصاراوو څخه تقلید مه کوئ».

دغه راز فرمایي:

«غَيِّرُوا الشَّيْبَ وَلَا تُقَرِّبُوهُ السَّوَادَ»[۳].

«د سپینو وړېښتانو رنګ ته بدلون ورکړئ، خو توروئ یې مه».

دسینګار لپاره د رنګونو د حالتونو شرعی حکم ډاکټر شیخ صالح فوزان ـ حفظه الله ـ په لاندي فتواکي بیان کړی دی:

---

۱– مش یا میش کول د وړېښتانو یو ډول موډ دی چي له لوېدیځ څخه راغلی دی او زموږ ښځو منلی دی. دا داسي کوي چي د سر د وړېښتانو بېلي بېلي برخي په لاس کي نیسي او په داسي رنګونو یې رنګوي چي د وړېښتانو له اصلي رنګ څخه بېل وي،لکه سپین یا سور یا طلایي، چي په پایله کي وړېښتان رنګارنګ سي او ځیني برخي یې طبیعي ورنګ ولري او ځیني یې مصنوعی رنګ ولري. زموږ په افغاني ښځو کي دا کار په هایي لایټ شهرت لري. (پښتو ژباړن).

۲– احمد او البانی هغه صحیح ګڼلی دی.

۳– احمد او البانی هغه صحیح ګڼلی دی.

سوال: د ټولو ورېښتانو د رنګولو حکم په سره، ژيړ، سپين يا طلايي رنګ څنګه دی او د مش کولو حکم څنګه دی؟

جواب: د سپينو ورېښتانو رنګول مستحب دي، خو نه په تور رنګ، بلکي په نکريزو، وسمه او داسي نورو .... د سپينو ورېښتانو تورول جواز نه لري، لکه چي پيغمبرﷺ فرمايي:

«غَيِّرُوا الشَّيْبَ وَلَا تُقَرِّبُوهُ السَّوَادَ».

«د سپينو ورېښتانو رنګ ته بدلون ورکړئ، خو توروئ يې مه». البته دا حکم نرو او ښځو دواړو ته دی.

خو هغه ورېښتان چي سپين نه دي بايد پر خپله هماغه اصلي او طبيعي بڼه پاته سي او بدلون پکښي رانه سي. اما که بدرنګه وي او بد ايسي بايد په يوه مناسب رنګ رنګ سي او بد رنګي يې ليري کړی سي. مګر طبيعي ورېښتان چي رنګ يې بد نه ايسي بايد پر خپل طبيعي حال پاته سي. ځکه چي د رنګولو لپاره يې کوم دليل وجود نه لري. که د ورېښتانو رنګول داسي وي چي له کافرو ښځو څخه تقليد وي او له کفري هيوادونو څخه راغلي باله سي، نو په حرام بللو کي يې شک نسته، او فرق نه کوي چي په ټولو ورېښتانو يې يو ډول رنګ وهلی وي يا يې رنګارنګ رنګولي وي[1].

**٥- د نوکانو اوږدول او رنګول:**

دګوتو د نوکانو اوږدول او په هغو ختَه رنګونو چي «لاک» نوميږي د هغو رنګول په ډېرو ښځو کي رواج موندلی دی. ځينو عالمانو د

١- «فتاوى المرأة المسلمة»، (520/2) مخ په لږ تصرف.

دې کار د نه مشروعيت په هکله فتواوي ورکړي دي. د دې فتواوو ځيني بېلګې په دې ډول دي:

سوال: ترڅلوېښتو ورځو زيات د نوکانو نه لنډول څه حکم لري؟

جواب: چاچي دا کار کړی وي، که د کفارو په پيروي وي ـ چي د هغو فطرت له سمي لاري څخه منحرف سوی دی ـ نو دا کار حرام دی، ځکه چي پيغمبرﷺ فرمايي:

«مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ».

«څوک چي د يوه قوم سره ورته او مشابه سي، نو له هغو څخه ګڼل کيږي».

اما که چا خپل نوکان تر څلوېښتو ورځو زيات پرې ايښي وي او د خپل زړه له غوښتني پرته بل دليل ونه لري، نو دا کار يې د انسان د طبيعت او د هغې مودې سره چي پيغمبرﷺ خپل امت ته ټاکلې ده، مخالفت دی[1].

سوال: د نوکانو د اوږدولو او په هغو د نوکانو د رنګ وهلو حکم څنګه دی؟ په دې خبره باندي په پوهه سره چي د نوکانو تر رنګولو دمخه اودس تازه کوو او تر څلېرويشتو ساعتونو وروسته هغه پاکوو؟

جواب: د نوکانو اوږده پرېښوول د سنتو خلاف کار دی. د رسول اللهﷺ حديث دی:

«الْفِطْرَةُ خَمْسٌ:الْخِتَانُ وَالِاسْتِحْدَادُ وَنَتْفُ الْإِبْطِ وَقَصُّ الشَّارِبِ وَتَقْلِيمُ الْأَظْفَارِ»[2].

---

١- «الفتاوى الجامعة للمرأة المسلمة»، (911/3) مخ.

٢- صحيح البخاري.

«پنځه مورده د فطرت اجزا باله سي: سنتول،د شرمځای د وریښتانو لیري کول، د بریتونو لنډول، د تخرګونو د وریښتانو لیري کول او د نوکانو لنډول».

تر څلوېښتو ورځو زیات د دې کارونو ځنډول جواز نه لري، او له حضرت انس‌رضي الله عنه څخه روایت دی:

«وُقِّتَ لَنَا فِي قَصِّ الشَّارِبِ وَتَقْلِيمِ الْأَظْفَارِ وَنَتْفِ الْإِبِطِ وَحَلْقِ الْعَانَةِ أَنْ لَا نَتْرُكَ أَكْثَرَ مِنْ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً»[۱].

«رسول الله‌ﷺ د بریتونو د لنډولو، د نوکانو د اخیستلو او د تخرګونو او د شرمځای د وربښتانو د ایسته کولو لپاره موږ ته وخت وټاکی چې له دغو څخه به هیڅ یو تر څلوېښتو شپو زیات نه ځنډوو». ځکه چې د نوکانو اوږده پرېښوول د ځارویو او ځینو کفارو سره مشابهت دی.

خو په نوکانو «د نوکانو د رنګ وهلو» په هکله باید وویل سي چې د دې کار پرېښوول غوره کار باله سي. او د اوداسه تازه کولو پرمهال باید پاک سي، ځکه چې نوکانو ته د اوبو د رسېدو مانع ګرځي[۲].

### ب) له نارینه وو څخه د ښځو د تقلید بېلګې:

#### ۱– د مردانه کالو اغوستل:

له هغو کارونو څخه چې ښځو ته حرام دي د هغو کالو اغوستل دي چې شکل یې د نارینه وو کالو ته ورته وي، لکه کمیس.

---

۱- صحیح مسلم.

۲- «فتاوی المرأة المسلمة»، (242/1) مخ.

له ډاکټر شیخ صالح فوزان څخه وپوښتل سوه چې که ښځې هغه کالي اغوندي چې د نارینه وو کالو ته ورته وي، نو حکم یې څه دی؟

هغه په جواب کې وویل:

د ښځو کالي باید د نارینه وو د کالو غوندي نه وي. او رسول الله ﷺ پر هغو ښځو چې د نارینه وو تقلید کوي او خپل کړه وړه د نارینه وو غوندي کوي لعنت ویلی دی. په کالو کې له نارینه څخه د ښځې تقلید دادی چې ښځه هغه کالي واغوندي چې د یوې ټولني په عرف کې د ډول او اوصافو له مخې په نارینه وو اړه لري[1].

**٢ – پتلون اغوستل:**

یو بل مصیبت چې په دې وروستیو کلونو کې په اخته سوي یو د ټولني د منځنیو ډلو په ښځو کې د پتلون د اغوستلو رواجېده دي. د لباس دغه ډول د مسلماني ښځې د شخصیت سره ګردسره پردی دی، او د حیا ـ چې د ښځې د ښایست راز پکښې نغښتی دی ــ د پرېښوولو لامل سوی دی.

عالمانو د پتلون د اغوستلو د حکم په هکله ډېري فتواوي ورکړي دي، د بېلګې په توګه:

سوال: آیا جواز لري چې ښځې هم د نارینه وو غوندي پتلون واغوندي؟

جواب: ښځې ته نه ښایي چې تنګ کالي واغوندي، ځکه چې بدن یې مشخص کوي او دا کار فتنه پاروونکی دی. او پتلونونه غالباً تنګ او په بدن پوري نښتي وي او د بدن غړي چې یې پټ کړي وي

١ - «الفتاوی الجامعة للمرأة المسلمة»، (848/3) مخ.

څرګندوي. همدارنګه د ښځو لخوا په پتلون اغوستلو کې د نارينه وو سره ورته والی راځي او رسول اللهﷺ پر هغو ښځو چي خپل ځانونه د نارينه وو سره ورته کوي، لعنت ويلی دی[١].

سوال: هغه نوی موډ چي په لوېديځ کي تر خپرېدو وروسته اوس په مسلمانو ښځو کي دود سوی دی، د تنګ پتلون اغوستل دي، چي د ډېرو ښځو خوښېږي، نو د دې حکم څنګه دی؟

جواب: ښځو ته د داسي کالو اغوستل جواز نه لري چي له نارينه وو يا کافرو ښځو څخه تقليد وي. همدارنګه د داسي تنګو کالو اغوستل هم ورته جايز نه دي چي د بدن غړي يې څرګندوي او د خلکو د پام ورګرځېدو لامل کيږي.

نو په پايله کي څرګنده سوه چي د دغو ټولو ممنوعيتونو په پام کي نيولو سره د پتلون اغوستل جواز نه لري[٢].

د علامه شيخ محمد بن صالح بن عثيمين په فتاوی کي يې د دې موضوع په هکله يوه داسي مسأله توضيح کړې ده چي ډېري ښځي خبر نه په لري. هغه ليکلي دي: که څه هم پتلون پراخه وي بيا هم له دې امله چي دواړي پښې نه پټوي د هغه اغوستل جواز نه لري او بل دا ببره سته چي د پراخ پتلون اغوستل دي له نارينه وو څخه تقليد وي، ځکه چي پتلون د نارينه وو لباس دی[٣].

---

١- «فتاوی المرأة المسلمة»، (850/3)مخ.

٢- د شيخ صالح فوزان فتوا د «فتاوی المرأة المسلمة»کتاب په، (438/1) مخ کي.

٣- د فتوا تفصيل ته د «الفتاوی الجامعة للمرأة المسلمة»، (852/3) مخ ته مراجعه وکړئ.

نو چې د پتلون اغوستل د دې ټولو خبرو له امله او که څه هم پراخه وي جواز نه لري، نو اغوستل یې څه لازم دي؟ او ولې یې اغوندو؟ او څوک چې هغه اغوندي بې له پرله پسې ګنهونو، لکه د هغه د اغوستلو ګناه او د هغو خلکو ګناه چې ورته ګوري او د نورو هغو ښځو ګناه چې تقلید ځني کوي، نوره څه ګټه ترلاسه کوي؟

**د ښځو په ځان جوړولو کې له نارینه وو څخه د تقلید بېلګې:**

باید په ډېرې خواشینۍ سره ووایو چې د کفارو لخوا په را لېږلو سوو چارو او شیانو کې لیدل کیږي چې ځینې ځواني نجوني د خپلو سرونو ورېښتان د ناریه وو غوندې جوړوي چې په «بچه ګانه» سرجوړولو شهرت لري.

د ورېښتانو دغه ډول لنډول حرام کار دی. ځکه چې په دې کې له نارینه وو څخه تقلید کیږي،او په دې هکله د علامه شیخ محمد بن صالح بن عثیمین په فتوا کې راغلي دي:

سوال: د ښځو د ورېښتانو د لنډولو حکم څنګه دی؟

جواب: که د ښځې ورېښتان تر دې کچې لنډ سي چې د نارینه د سر د ورېښتانو غوندي سي، نو دا کار حرام او د لویو (کبیره) ګنهونو څخه دی. په دې چې رسول اللهﷺ پر هغو ښځو چې خپل ځانونه د نارینه وو غوندي کوي لعنت ویلی دی. خو، په هکله یې د عالمانو په منځ کې اختلاف دی او مشهور د امام احمدؒ قول دی چې دا کار یې مکروه بللی دی. او ښځې ته یې د سر د ورېښتانو لنډول،د مخ لخوا وي که د شا لخوا مکروه بللي دي.او که د ورېښتانو دغه لنډېده تر دې کچې ورسیږي چې د نارینه وو د ورېښتانو غوندي سي یا یې

د کافرو ښځو غوندې لنډ کړي، بيا حرام باله سي. ځکه چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

«مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ».

«څوک چې د يوه قوم سره ورته او مشابه سي، نو له هغو څخه ګڼل کيږي»[1].

او ليدل سوي دي چې کومه ښځه مردانه کالي اغوندي او وريښتان د هغو د وريښتانو غوندي لنډوي، په خبرو او تللو او نورو حرکاتو کې قصدي وي که غير قصدي، د نارينه وو غوندې عمل کوي او د ځينو منحرفو اخلاقو منشا چې نن مهال له ځينو نجونو څخه تر سره کيږي، دغه چاري دي.

نو ای زما مسلماني خور! له دې چارو څخه چې د لعنت او د لوی څښتن ﷻ له رحمت څخه د ليري کېدو لامل کيږي ډډه وکړه.

## څلورم: له محرماتو څخه ډډه کول

يو له هغو شيانو څخه چې بايد د کالو او سينګار په هکله په پام کې ونيول سي، له هر هغه شي څخه ډډه کول دي چې د اسلام سپيڅلي دين د کالو او سينګار په هکله حرام کړي دي. چې دا چاري دوه ډوله دي:

### الف) هغه کالي چې اغوستل يې حرام دي:

مسلمانه ښځه بايد له هر هغه څه څخه چې لوی څښتن د کالو او زينت په هکله حرام کړي دي، ليري واوسي، د بېلګې په توګه:

---

۱- «فتاوی المرأة المسلمة» کتاب، (513/2) مخ.

**١– د هغو کالو اغوستل چې د روح لرونکو تصویرونه باندې کښل سوي وي:**

له روح لرونکو څخه انسانان او څاروي مراد دي. او دا له هغو منع سوو کارونو څخه دی چې زموږ ډېرې مسلمانې ښځې ډېر لږ ارزښت ورکوي، تر دې اندازې چې زموږ په ټولنه کې یې رواج پیدا کړی دی. له دې کار څخه د لاس اخیستلو لپاره بس د رسول الله ﷺ دا ښکلې خبره بسنه کوي:

«لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا صُورَةٌ»[١].

«ملایکې هغه کور ته نه ننوزي چې سپی او تصویر (عکس) پکښې وي».

د عکس حکم پر هر هغه شي پلی کېږي چې د مجسمې یا د بل تصویر په بڼه وي، لکه چې شیخ محمد بن صالح بن عثیمین په لاندې فتوا کې اشاره ورته کړې ده:

«چا چې دا خبره په موږ پورې تړلې ده چې موږ ویلي دي چې تصویر یوازې مجسمې ته وایي او نور شیان حرام نه دي، په موږ پورې یې درواغ تړلي دي، او موږ وایو چې د هغو کالو اغوستل چې تصویرونه ولري حرام دي، د کوچنیانو کالي وي، که د لویانو. او د یادګار لپاره یا د نورو دلایلو له مخې عکس اخیستل جواز نه لري. خو اړین کارونه، لکه د تذکرې او شهادتنامې اخیستل له دې څخه مستثنا دي»[٢].

بل مورد چې باید اشاره ورته وکړو دادی چې د ډېرو کوچنیانو، بلکې د ټولو کوچنیانو کالي د روح لرونکو تصویرونه لري. ان کله

---

١– متفق علیه.

٢– د«الفتاوی الجامعة للمرأة المسلمة»، (859/3)مخ په لنډون سره.

چې ميندې په بازار کې خپلو کوچنيانو ته کالي رانيسي، څنګه چې ټول کالي ډول ډول انځورونه لري، نو د کالو په رانيولو کې ډېرې سرګردانې سي. دا چې سوداګر دغسې کالي بازارونو ته وړاندې کوي ښايي لامل يې داوې چې ښځې يې ډېر خوښوي. نو که هره مسلمانه ښځه د دغسې کالو له رانيولو څخه ډډه وکړي، د ځان لپاره يې وي که د ماشومانو لپاره، نو بيا به سوداګر دغسې حرام کالي نه راوړي؟

**٢ – هغه کالي چې بدن نه پټوي:**

يو بل ستر مصيبت چې امت په اخته سوی دی د کالو په هکله، په تېره د هغو نازکو کالو په هکله د ډېرو مسلمانو ښځو او نجونو بې پروايي ده چې بدن نه پټوي او د بدن حجم او رنګ څرګندوي . يا د ډېر لنډوالي يا د ډېرو سوريو او ډول ډول چاکونو له امله د دې لامل کيږي چې د بدن ځيني برخې ځني څرګندي سي، او يا يې تنګوالی د بدن څرنګوالی ښکاره کړي.

که موږ هغو مغازو ته چې ښځينه کالي خرڅوي يو ځغلند کاته وکړو، نو موږ ته به څرګنده سي چې زموږ امت د دين د غربت له امله د څونه ستر مصيبت سره لاس او ګرېوان دی.

په لوی ځښتن لوړم چې د هر غيرتمن مسلمان په سترګو کې به اوښکي ولغړي او وبه وايي چې آيا دغه شرموونکي کالي د حضرت بي بي عايشې او حضرت بي بي فاطمې رضي الله عنهما د اولادونو وړ دي؟ په دې منځ کې چې ډېر زړه دردوونکې خبره ده د ډېرو مسلمانو ښځو لخوا د دغو ناوړو کالو خوښول دي. او بله داده چې دغه ښځې د خپلو محارمو او نورو ښځو په وړاندې د دغه ډول کالو په اغوستلو فخر کوي! دا داسې کالي وي چې تر ورانه پوري چاک لري يا دونې

لنډوي چي پښې تر زنګنو پوري ځني ښکاري. يا داسي تنګ کالي وي چي د بدن د ټولو غړو څرنګوالى ځني معلوميږي، لکه چي هيڅ کالي يې نه وي اغوستي. او داسي شرمناک کالي وي چي سينه او شا او لاسونه ځني ښکاري او ان داسي وي چي نس ځني معلوميږي. بيا نو په دې صورت کي څه پاته سوه چي بايد له سترګو څخه پټ سي؟!

اى زما درنې او مهرباني خور! تل دي په پام کي وي چي ته د اسلام د دښمنانو لخوا د دې لڅو يا نيم لڅو کالو په وسيله د دې لپاره چي له خپل اسلام او فرهنګ څخه دي ليري کړي او له ستر او پت او عزت څخه دي پردۍ کړي هدف واقع سوې يې:

﴿وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّنۢ بَعْدِ إِيمَٰنِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم﴾ [البقرة: ١٠٩].

«(اى مسلمانانو!) ډېر اهل کتاب د خپلو زړونو د رُخې (کينې او حسد)پربنسټ دا غواړي چي په يو ډول نه يو ډول تاسي تر ايمان راوړلو وروسته بېرته کفر ته (او هغه ناوړه حالت ته چي دمخه مو درلود) واړوي».

نو پر خپل ځان باندي د هغو سره مرسته مه کوه او د رسول الله ﷺ دا حديث درڅخه هر نه سي چي فرمايي:

«صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا: قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلَاتٌ مَائِلَاتٌ رُءُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ لَا يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يَجِدْنَ رِيحَهَا وَإِنَّ رِيحَهَا لَيُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ كَذَا وَكَذَا»[1].

---

١ – مسلم.

«له دوږخيانو څخه دوې ډلې دي چي نه مي دي ليدلي: يوه ډله هغه ده چي د غوا د لکۍ غونـدي شـلاخي يـې پـه لاس کـي وي او خلک په وهي او هغه ښځي چي کالي يې اغوستي وي، خـو پـه عـين حال کي لڅي وي، او هغه ښځي چي خلکو ته تمايل ښـيي او نارينـه خپلو ځانونو ته متمايل کوي او د سرونو وربښتان يې د اوښ د بـوک غوندي راکاږه کړي وي. دغه دوې ډلي هيڅکله جنت ته نه ننوزي او بوی يې هيڅکله نه احساسوي، په داسي حال کي چي د جنت بوی له ډېر ليري واټن څخه د بويېدو وړ دی».

علامه شيخ محمد بن صالح بن عثيمين ويلي دي: عالمـان وايـي چي د دې جملې چي (کـالي يـې اغوسـتي وي، خـو لڅي وي) معنـا داده چي دغه ښځي به تنګ، نازک يا لنډ کالي اغوندي.

د صحابه وو ښځوﷺ عادت دا وو چي داسي کالي به يې اغوستل چـي اوږدوالـی يـې د پښـو تـر بجلکـو پـوري رسـېدی او د لسـتوڼو اوږدوالی به يې د لاسونو تر بندونو رسېدی. پر دې سربېره کله چي به بازار ته تلې نور داسي اوږده کالي به يې هم پر اغوستل چي د لاسونو ورغوي به يـې هـم پټول او يـا بـه يـې دسـتکلې (دستکښـي)په لاس کولې. په دې توګه له دستکلو څخه استفاده د صحابه وو ښځوﷺ يـو دود وو. د رسول اللهﷺ له دې وينا څخه چي ښځه د احـرام تړلـو پـه وخت کي بايد دستکلې په لاس نه کړي، معلوميږي چي که هغه مهال له دستکلو څخه استفاده دود وه، که نه نو د احرام په حال د هغـو لـه په لاس کولو څخه د منع کولو څه اړتيا وه؟»[1].

---

١- د «الفتاوى الجامعة للمرأة المسلمة» کتاب، په (855/3) مخ کي د شيخ د فتوا يوه برخه.

اما کوم څه چې د منځنيو ډلو په ځينو ښځو کې دود سوي دي دادي چې د ښځو د پټېدو حد (يا عورت) کله چې د ښځو په منځ کې وي، د نارينه وو د عورت له حد څخه په تقليد، د دوی په خپلو منځو کي هماغه له نامه څخه تر زنګنو پوري دی، چې دا خبره هيڅ دليل او اعتبار نه لري.

د شيخ محمد بن صالح بن عثيمين په فتوا کي داسي راغلي دي:

سوال: د آزادي ښځي د عورت حد دايي ګانو، اکا ګانو او ورونو ته په کور کي په کومه اندازه دی ؟

جواب: ښځه کولای سي خپلو محارمو ته مخ، سر، غاړه، او څېنګلي او پونډۍ ښکاره کړي او نور ځايونه څني پټ کړي[1].

او په دې فتوا کي د ډاکټر شيخ صالح الفوزان ـ حفظه الله ـ لخوا څخه ډېر توضيحات وړاندي سوي دي.

سوال: ډېري ښځي فکر کوي چې د ښځو په منځ کي د ښځي د عورت حد له نامه څخه تر زنګنو پوري دی. پر دې بنسټ ځيني ښځي داسي ډېر تنګ يا داسي سوري لرونکي يا چاکونو لرونکي کالي اغوندي چي د هغو د سينو او لاسونو ډېري برخي څني څرګندېږي، نو ستاسي څرګندوني په دې هکله څه دي؟

جواب: هغه څه چي له مسلمانو ښځو څخه غوښتل کيږي حيا او تواضع ده او دادي چي خپلو مسلمانو خوندو ته يو ښه مثال واوسي او د ښځو په منځ کي د خپل بدن له غړو څخه هغه ځايونه ښکاره کړي چي په دين باندي د پايبندو مسلمانو ښځو عادت وي او دا ډېر

---

١ ـ د «فتاوى الحجاب واللباس والزينة للمرأة المسلمة»، 22 مخ.

ښه کار دی، ځکه چي د ښځو د بدن د هغو ځايونو په ښکاره کولو کي بې پروايي، چي د هغو د ښکاره کولو لپاره دليل وجود ونه لري، د زياتي بې پروايي لامل ګرځي او د بې حجابۍ چي حرام کار دی سبب کيږي. و الله اعلم[١].

د نجونو تنګ او لنډ کالي هم له دې قبيله دي.

د علامه شيخ محمد بن صالح بن عثيمين په فتوا کي راغلي دي:

سوال: ځيني ښځي ـ چي لوی ځښتن دي لارښوونه ورته وکړي ـ په خپلو لوڼو داسي لنډ کالي اغوندي چي د هغو د پښو پونډۍ نه پټوي او کله چي دې مندو ته نصيحت کوو، وايي چي: موږ هم دمخه دغسي کالي اغوستل، خو بيا چي لويي سوو موږ ته يې څه ضرر نه دی کړی. ستاسي نظر په دې هکله څه دی؟

جواب: «زما نظر دادی چي ډېره ښه داده چي څوک دغسي لنډ کالي خپلو لوڼو ته ور وانه غوندي، ځکه که هغوی د دغسي لنډو کالو سره اموخته سي، بيا د هغو اغوستلو ته ادامه ورکوي او عادت کيږي يې، خو که له کوچنيوالي څخه د حيا په درلودلو عادت سي، نو دغه حالت تر لوی والي پوري پکښي پاته کيږي. زه خپلو مسلمانو خوندو ته سپارښتنه کوم چي د بهرنيانو د کالو له اغوستلو څخه چي زموږ د دين دښمنان دي ډډه وکړي او خپلي لوڼي د داسي کالو په اغوستلو عادت کړي چي بدن يې ور پټوي او حياناکي يې وروزي، ځکه چي حيا د ايمان يوه برخه ده»[٢].

---

١ـ د «الفتاوی الجامعة للمرأة المسلمة»، (1041/3) مخ.

٢ـ د «الفتاوی الجامعة للمرأة المسلمة»، (856/3)، مخ په لږ تصرف.

**٣– هغه کالي چې په بهرنیو ژبو لیکنې پر سوي وي یا حرام تصویرونه پر کښل سوي وي:**

نن مهال په بازارونو کې داسې کالي ښځې ډېر خرڅېږي چې د ډول ډول تصویرونو او شکلونو درلودونکي دي. مثلاً داسې شکلونه پر کښل سوي دي چې د صلیب شکل ته ورته دي، یا په بهرنیو ژبو داسې جملې پر لیکل سوي دي چې د اعتقادي او اخلاقي فاسدو معناوو درلودونکي دي او زموږ د دین سره په تضاد کې دي.

له شیخ محمد بن صالح بن عثیمین څخه داسې وپوښتل سوه:

سوال: ځیني کسان داسې کالي اغوندي چې انګرېزي جملې پر لیکل سوي وي او ښایي دغسې کلمې ناسمې معناوې ولري، نو د دغسې کالو د اغوستلو حکم څه دی او آیا دا کار د تقلید حکم لري؟

جواب: لومړی باید د هغو جملو او تورو د معناوو په هکله پوښتنه وسي چې په بهرنیو ژبو لیکل سوي وي، ځکه کېدای سي چې ناسمې او غیر اخلاقي معناوې ولري. د هغو کالو اغوستل چې انګرېزي جملې یا زموږ له مورنیو ژبو پرته د نورو ژبو جملې پر لیکل سوي وي جواز نه لري، مګر که یې څوک په بې غرضې پوه سي او د انسان شرافت ته تاوان نه رسوي او د کفارو د درناوي لپاره نه وي بیا یې اغوستل پروا نه کوي. ځکه کله کله له دغسې جملو څخه د ځینو کفارو، لکه فوټبال کوونکو، لوبغاړو، مخترعینو او داسې نورو د ستاینو لپاره ګټه اخیستل کېږي. نو که پر کالو باندې دغسې جملې وي اغوستل یې حرام دي. له دې امله باید د دغسې کالو تر رانیولو او اغوستلو دمخه پر هغو باندې د دغسې جملو د معناوو پوښتنه وسي»[١].

١ – «الفتاوی الجامعة للمرأة المسلمة» کتاب، (857/3)مخ.

نو ای زما ګراني خور! د داسي کالو تر رانيولو دمخه چي په بهرنيو ژبو ليکني پر سوي وي د هغو د معناوو په هکله معلومات وکړه او معناوو ته يې متوجه سه، ځو په دې توګه د اسلام دښمنانو ته زموږ د ګمراه کولو او زموږ د پت او عزت د له منځه وړلو لپاره موقع ورنه کړو.

**ب) د ځان جوړولو د حراموالي موارد او وسايل:**

کله چي مسلمانه ښځه ځان جوړوي، نو ورته لازمه ده چي په حلالو توکو ځان جوړ کړي او د هر حرام سينګار څخه ډډه وکړي، د مثال په ډول:

**١– د وروځو اخيستل:**

د وروځو اخيستل حرام کار دی، خو له بده مرغه چي زموږ په ښځو او نجونو کي ډېر دود سوی دی. دا کار د کبيره ګنهونو له جملې څخه دی. حضرت عبدالله بن مسعودﷺ له پيغمبرﷺ څخه روايت کوي چي:

«الله تعالی لعنت فرمايلی دی پر هغو ښځو چي خالونه وهي او پر هغو ښځو چي غواړي خالونه ورووهل سي، او پر هغو ښځو چي وروځي نری کوي او پر هغو ښځو چي د هغو د نری کولو غوښتونکي وي، او پر هغو ښځو چي د ښکلا لپاره خپل غاښونه يو رنګه کوي او د لوی ښتن خلقت ته بدلون ورکوي». بيانو زه څله پر هغو کسانو لعنت ونه وايم چي پيغمبرﷺ پر ويلی وي او په قرآن کي راغلي دي چي:

﴿وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ﴾ [الحشر: ٧].

«څه چي پيغمبر تاسي ته (له الهي احکامو څخه) دروړي دي هغه واخلئ (تر سره يې کړئ)»[١].

ان که د وروځو اخيستل د مېړه لپاره د ځان جوړولو په موخه وي هم منع دی. لکه چي شيخ محمد بن صالح بن عثيمين فتوا ورکړې ده. له شيخ څخه پوښتنه وسوه: د وروځو اخيستل، په تېره چي وروځي پنډي وي او د مېړه د ناخوښۍ لامل ګرځي، نو دا کار د مېړه لپاره د ځان جوړولو په موخه روا دی؟ هغه جواب ورکړ: د وروځو اخيستل جواز نه لري او رسول اللهﷺ پر هغو ښځو چي د نورو ښځو وروځي نرۍ کوي او پر هغو ښځو چي د هغو د نرۍ کولو غوښتونکي وي يا خپله دا کار کوي لعنت ويلی دی. او دا کار حرام دی او لوی څښتن هر څه چي کړي دي حکمت پکښي لري . پر دې بنسټ ځيني کسان په ظاهره ښايسته وي او ځيني بيا داسي نه وي او ټول کارونه د لوی څښتنﷻ لخوا تر سره کيږي، نو پر انسان واجب ده چي صبر ورکړي او خپل اجر له لوی څښتن څخه وغواړي او خپلو غوښتنو ته د رسېدو په لار کي په حرامو اخته نه سي. هيڅا ته نه ښايي چي د خپلو وروځو وريښتان وکاږي، مګر کله چي وريښتان د وروځو په دباندي برخو کي را شنه سوي وي. لکه چي پر کوم خال باندي وريښتان را شنه سوي وي، په دې صورت کي کولای سي چي دغسي وريښتان له منځه يوسي چي دا د يوه ناوړه نقص له منځه وړه دي او سينګار نه بلل کيږي.[٢].

---

١- البخاری.

٢- «الفتاوی منار الاسلام» کتاب، (382/3) مخ.

نن مهال د ښځو په منځ کي داسي يوکار رواج سوی دی چي «ټاټو، tattoo» نوميږي او په هغه سره وروځو ته يو ډول دايمي بڼه ورکوي او دا کار د ستني په وسيله په اتوماتيک ډول تر پوست لاندي د رانجو په اچولو سره تر سره کيږي. چي څه له پاسه يو کال دوام کوي او بيخي ډېر لګښت پر راځي.

دا کار د لوی څښتن د خلقت اصل ته د بدلون ورکولو په سبب او د کيمياوي موادو د کارولو له امله وروځو ته د تاوان رسيدو په سبب حرام دی[1].

د وروځو اخيستل او د هغو د وريښتانو کښل او لنډول يو شی دی، لکه چي د شيخ محمد بن صالح بن عثيمين په فتوا کي راغلي دي:

سوال: د وروځو د ځينو برخو د لنډولو او يا اخيستلو حکم څنګه دی؟

جواب: د وروځو اخيستل له کبيره ګنهونو څخه باله سي او پيغمبر ﷺ پر هغه چا چي د نورو وروځي اخلي او پر هغه چا چي له بل څخه غواړي چي وروځي يې واخلي لعنت ويلی دی. او پيغمبرﷺ دا کار په ښځو پوري ځانګړی کړی دی، ځکه چي ښځي له دې کار څخه د ښايست لپاره استفاده کوي. که نارينه دا کار وکړي هغه هم د ښځو غوندي ملعون دی ـ العياذ بالله ـ او علما د وروځو لنډول د هغو د اخيستلو غوندي بولي، ځکه چي د لوی څښتن خلقت ته بدلون ورکوي او د وروځو اخيستل او کښل د هغو د لنډولو سره فرق نه

١- د «ضوابط هامه فی زينه المرأه» کتاب، 34، مخ ته دي مراجعه وسي.

کوي. نو ښه داده چي له دې کار څخه ډډه وسي او مسلمان نر وي که ښځه بايد له دې کار څخه اجتناب وکړي[١].

له نورو هغو مواردو څخه چي په دې موضوع اړه لري د وروځو رنګول دي چي په دې وروستيو کي يې په ښځو کي رواج پيدا کړی دی او هغه په دې ډول دی چي: ښځه يوه تاکلې بڼه چي د خپلو وروځو لپاره يې په پام کي نيولې ده ځانګړې کوي او بيا د وروځو پورته او کښته اضافي وريښتان د خپل پوست په رنګ رنګوي، په داسي توګه چي له ليري څخه د وروځو شکل داسي معلوم سي لکه وروځي چي يې اخيستي وي. دا کار (د سعودي عربستان) د افتاء د عالي هيئت د فتوا له مخي حرام دی. په دې هکله دغه هيئت تر څېړنو وروسته داسي جواب ورکړ: په ياده سوې توګه د مخ د پوست سره د وروځو د پورته او کښته وريښتانو يو رنګه رنګول منع دي. ځکه دا عمل د لوی څښتن په خلقت کي بدلون راوستل دي او له دې امله چي د وروځو له اخيستلو سره ورته والی لري له شرعي نظره حرام دی. او که په دې کار کي له کفارو څخه تقليد وي او يا له دې کار څخه استفاده بدن يا وريښتانو ته ضرر ولري، بيا يې نو حرمت نور هم ډېرېږي، ځکه چي لوی څښتن فرمايي:

﴿وَلَا تُلۡقُواْ بِأَيۡدِيكُمۡ إِلَى ٱلتَّهۡلُكَةِ﴾ [البقرة: ١٩٥].

«خپل ځانونه په خپلو لاسونو هلاکت ته مه اچوئ».

او حضرت رسول اللهﷺ فرمايلي دي:

«لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ»[١].

---

١- «فتاوى المرأة المسلمة»، (536/2) مخ.

«مه ضرر قبلوئ او مه ضرر رسوئ». وبالله التوفيق[٢].

هغه موارد چې د وروځو اخيستلو تر مجموعه لاندې نه راځي او حرام نه بلل کيږي،دادي:

د هغو وريښتانو له منځه وړل پروا نه کوي چې د بدن په داسې ځايونو کې را شنه کيږي چې معمول نه وي، لکه د ښځو بريتونه (او ږيره)راتلل او پر باړخوګانو باندې وريښتان را شنه کېدل، ځکه دا وريښتان د عادت په خلاف راشنه سوي او د ښځې سره بد ايسي او عيب باله سي[٣].

لنډه دا چې: په وروځو بې ځايه لاس وهل، د هغو اخيستل وي که لنډول حرام باله سي، په دې دليل چې د خدایﷻ له رحمت څخه د ليري کېدو لامل کيږي.

نو اى زما ګراني خور! آيا موږ د لوى څښتن رحمت ته په دې او هغه نړۍ کې اړتيا نه لرو؟ په داسې حال کې چې لوى څښتنﷻ هيڅوک له خپل رحمت څخه پرته جنت ته نه ليږي. نو بيا ولې داسې ګنهونه وکړو چې زموږ او د خداى د رحمت تر منځ واټن رامنځ ته کوي؟

---

١- د امام مالک موطا او د ابن ماجه سنن، او البانی هغه صحيح ګڼلی دی.

٢- د شيخ ابن عثيمين فتوا ته دي د«فتاوى المرأة المسلمة»په (536/2) مخ کې مراجعه مراجعه وسي.

٣- د افتاء د عالي هيئت فتوا (21778) ګڼه په 1421/12/29 هـ. ق. نېټه.

**۲- خالونه وهل:**

دا په دې توګه دي چي د بدن پوست په ستنو سوری کوي، څو لـه هغه څخه ویني راسي. بیا د ویني ځای په رنجـو، یـا نیلـي رنـګ، یـا جوهرو یا داسي بل شي ډکـوي او پـه نتیجـه کـي د خـال وهلـو ځـای شین یا آسماني رنګه سي. خلک په خالونو وهلو کـي تنـوع راولـي او ځیني پر خپلو لاسونو باندي زړه یا د هغه چـا نـوم چـي مینـه ورسـره لري کاږي. ان ځیني ښځي په دې توګه خپل شونډان د تل لپـاره شـنه کوي. په دغه ډول خالونه وهل حرام دي او وهونکی یـې د خـدای د لعنت لامل ګرځي.[۱]

پورته خبره د ابن مسعودؓ د هغه حدیث پر بنسټ سوې ده چـي د وروځو اخیستلو په برخه کي تېر سو .

هغه دلایل چي له مخي یې خالونه وهل حرام بلل کیږي دا دي:

1- د لوی څښتن‌ﷻ په خلقت کي بدلون راوستل دي.

2- د ستنو وهلو د ځای پاته کېدل دي.

3- د ژوندي غړي خوږول او بې له داسـي دلیلـه چـي ورتـه اړتیـا وي د انسان په تکلیف کول دي[۲].

شیخ محمد بن صالح بن عثیمین د دې پوښتني په جواب کي چي آیا د خالونو وهلو حکم څه دی او آیا هغه کوچنۍ نجلۍ چي پر بـدن یـې خالونـه وهـل سـوي دي ګناهکـاره ده کـه نـه؟ داسـي ویلـي دي: خالونه وهل حرام دي او له لویو (کبیره) ګنهونو څخـه بالـه سـي. پـه دې دلیل چي رسول اللهﷺ پر هغه چا چي نـورو تـه خالونـه وهـي او

۱- «الضوابط الهامة في زینة المرأة»، 36مخ.

۲- پخوانی ماخذ 36 مخ.

پر هغه ځا چې له نورو څخه غواړي چې پر بدن دې خالونه ور ووهي لعنت ويلى دى. نو چې د کوچنۍ نجلۍ پر بدن خالونه ووهل سي، او دا په داسي حال کې وي چې خپله نه سي کولاى چې د خالونو د وهلو مانع وګرځي، نو هغه هيڅ ګناه نه لري او ځا چې دغه کار د هغې پر بدن ترسره کړى دى ګناهکار دى. ځکه لوى ښتن له هرچا څخه د هغه د وس په اندازه انتظار لري او مؤاخذه کوي يې. دا نجلۍ نه سي کولاى چې د دې کار مخه ونيسي، خو ځا چې پر هغې باندي دغه کار اجرا کړى دى ګنهکار دى او دغه شخص بايد دغه خالونه که ضرر نه ور رسيږي پاک کړي[1].

**٣ – د غاښو يو رنګه کول:**

امام شوکانيؒ ويلي دي چې: د غاښونو په منځ کي فاصله کمول معمولاً د مخکنيو غاښونو سره د نورو غاښونو د فاصلې د کمولو او د هغو سره د برابرولو او يورنګه کولو لپاره کيږي. د ډېر عمر درلودونکي ښځې دې لپاره چې ځواني وايسي دا کار تر سره کوي.

ځنګه چې د غاښونو په منځ کي دغه کمه فاصله په لږ عمرو نجونو اړه لري،او ښځه چې کله زړه سي او عمر يې ډېر سي، نو دا کار کوي، څو خپل ځان ښايسته وايسوي او د نورو په نظر کم سنه ورسي.

د ابن مسعودؓ د هغه حديث پر بنسټ چې دمخه ذکر سو دا کار حرام دى. د دې د حرام والي دليل دادى چې دا کار د سينګار او ښکلي کولو په موخه کيږي. خو که دا د درملني په موخه تر سره سي

١ - «فتاوى منار الإسلام»، (830/3) مخ.

پروا نه کوي. لکه چي د ډاکټر شيخ صالح فوزان ـ حفظه الله ـ په فتوا کي ذکر سوي دي: مسلماني ښځي ته د غاښنو په منځ کي د يورنګه کېدو په موخه فاصله ورکول چي د ښکلا لپاره وي حرام کار دی. چي له دې کار څخه دغاښنو په تراشلو او د لېږي فاصلې په ورکولو سره د ښايست په موخه ګټه اخيستل کيږي. خو که غاښونه نامنظم وي او سمولو ته اړتيا ولري يا چينجو خوړلي وي او ترميم يې اړين وي، نو دا کار پروا نه کوي، ځکه چي دا کار د درملنې په موخه او د غاښنو د ستونزو د له منځه وړلو لپاره د متخصص ډاکټر په واسطه تر سره کيږي[١].

د غاښونو د تراشلو حکم د هغو ارتودنسي کولو ته کوم چي تازه يې د خلکو په منځ کي رواج موندلی دی، نه شامليږي.له ډاکټر شيخ صالح فوزان ـ حفظه الله ـ څخه پوښتنه وسوه چي آيا د هغو غاښونو ارتودنسي کول چي کاږه واږه دي جواز لري؟

هغه په جواب کي وويل: که غاښونه کاږه واږه وي او د دې ستونزي ليري کولو ته اړتيا ليدل کيږي، نو پروا نه کوي. خو که دې کار ته اړتيا نه وي، تر سره کول يې منع دی. بلکي د غاښونو له تراشلو او د هغو په منځ کي د يوشانته فاصلې له ورکولو څخه منع راغلې ده، او دا کار ځکه منع سوی دی چي يو خو بېهوده کار دی او بل د لوی ښتن په خلقت کي بدلون راوستل دي. خو انسان کولای سي د غاښو د ستونزو د ليري کولو او په هغو د خوړو د سم خوړلو لپاره له دې عمل څخه ګټه واخلي[٢].

---

١- «الفتاوى الجامعة للمرأة المسلمة»، (868/3) مخ.

٢- مخکنی ماخذ (869/3) مخ.

**۴– له هغي طلا څخه استفاده چي د ځارویو د مجسمې بڼه یې ورکړې وي :**

دا کارهم د هغو مسایلو لـه جملې څخـه دی چي ځیني ښـځي د هغو په هکله بې پروایي کوي. د شیخ محمد بن صالح بن عثیمین په فتوا کي راغلي دي:

سوال: د سرو زرو د هغي ټوټې د پېر او پلـور حکـم څـه دی چـي تصویر پر کښل سوی وي یا په مختلفـو بڼو اوښـتې وي، د مثـال پـه ډول د پتنګ، دمار د سر او داسي نور و ځارویو تصـویرونه پـر کښـل سوي وي؟

جواب: د سرو او سپینو زرو د هغو ګېڼو رانیول او خرڅول او ګټه ځني اخیستل چي د ځارویو په بڼه سـوي وي حـرام دی. ځکـه چـي د مجسمو ماتول او له منځه وړل پر هـر مسـلمان واجـب بالـه سـي. پـه صحیح مسلم کي له ابوالهیاج څخه روایت سـوی دی چـي حضـرت علیؓ ورته وویل:

«آیا زه تاته د داسي کار لارښوونه وکړم چي رسول اللهﷺ زه هم د هغه په تر سره کولو امر کړی یم؟ او هغه کار دادی چي هره مجسـمه چي دي ولیدل ماته یې کړه او هـر قبـر چـي د مځکي تـر سـطح لـوړ وو،د مځکي سره یې برابر کړه، (دونه یې لوړ پرېږده چي لـه مځکـي څخه ښکاره سي او فرق یې ځني وسي)».

او له حضرت پیغمبرﷺ څخه روایت سوی دی:

«أَنَّ الْمَلَائِكَةَ لَا تَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ صُورَةٌ»[۱].

«ملایکي هغه کور ته نه ننوزي چي عکس او مجسمه پکښې وي».

---

۱– صحیح البخاري.

ځکه نو بايد مسلمانان د دغسي ګېڼو له رانيولو او خرڅولو او استفادې کولو څخه ډډه وکړي[١].

**٥ – له هغي طلا څخه استفاده چي د قرآن آيتونه پر کيندل سوي وي:**

ځيني ښځي داسي طلاوي رانيسي چي د قرآن کريم ځيني آيتونه پر ليکل سوي وي، او د ځان يا د خپلو اولادونو لپاره له هغو څخه استفاده کوي. د شيخ عبدالله بن حميد په فتوا کي راغلي دي:

سوال: پر هغه طلا چي ښځي او کوچنيان استفاده ځني کوي د «آية الكرسي» او د «الله» او «محمد» د کلمو د ليکلو حکم څنګه دی؟ او آيا تشناب ته يې وړل جواز لري؟

جواب: دا ناسم کار دی، قرآن د داسي چټي کارونو، لکه پر طلاوو او لوښو او نورو د ليکلو لپاره نه دی، بلکي لوی څښتن ﷻ قرآن کريم د معنوي ناروغيو د درملني او د خلکو د لارښووني او نصيحت لپاره نازل کړی دی.

قرآن د دې لپاره نه دی نازل سوی چي پر ګېڼو او کالو وليکل سي. او دغه ګېڼې او کالي بيا تشنابونو ته ننباسي. لنډه دا چي دا کار حرام دی او بايد ونه سي. قرآن تر دې ډېر ستر او لوړ دی چي د دغسي ټيټو کارونو لپاره ګټه ځني واخيستل سي. بلکي لوی څښتن قرآن د بشر د هدايت لپاره را ليږلی دی. الله ﷻ فرمايي:

﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ وَلَا يَزِيدُ ٱلظَّـٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارًا ﴿٨٢﴾﴾ [الإسراء: ٨٢].

---

١ – «فتاوى إسلاميه»، (360/2) مخ.

«موږ د قرآن له آيتونو څخه هغه څه نازلوو چي دمنونکو لپاره (د شک او نفاق او جهالت له ناروغيو څخه) شفا او رحمت دي، خو د ظالمانو (کفارو) لپاره له زيان (کفر او ګمرهۍ) څخه پرته (د دوی لخوا د هغه د درواغ ګڼلو او پر هغه باندي د ايمان نه راوړلو له امله) بل څه نه زياتوي».

نو له قرآن څخه په دې توګه استفاده حرامه ده. بايد له طلا او نورو څخه د قرآن آيتونه پاک سي، ځکه چي دا قرآن ته د بې حرمتۍ لامل ګرځي. او د قرآن سره تشناب او حمام ته ننوتل په هر ډول چي وي حرام باله سي. بلکي لکه څنګه چي عالمان وايي د قرآن مقام ته د درناوي او تعظيم لپاره بايد د دې چارو مخه ونيول سي. والله اعلم[1].

خو که د ښځي موخه د قرآن له ليکلو څخه د دې او د دې د اولادونو په هکله د نظرکېدو او حسد مخنيوی وي - چي په ډېرو مواردو کي همدغسي وي - نو بيا خطرناکه اعتقادي ښويېدنه ځني سوې ده. ځکه چي دا کار د تعويذ ليکلو حکم غوره کوي چي پيغمبر ﷺ د هغه په هکله فرمايلي دي:

«مَنْ عَلَّقَ تَمِيمَةً فَقَدْ أَشْرَكَ»[2].

«څوک چي تعويذ وځړوي د شرک مرتکب سوی دی».

او (د سعودي عربستان) د افتاء د عالی هيئت په فتوا کي داسي راغلي دي: «د تعويذ لپاره له قرآن څخه استفاده د ټولو عالمانو په وينا حرامه ده»[1].

---

١- «فتاوی المرأة المسلمة»، (458/1) مخ.

٢- دغه حديث په مسند احمد کي له اسماء بنت ابوبکر رضي الله عنها څخه روايت سوی دی او البانی هغه صحيح بللی دی.

له نظر کېدو څخه د کوچنیانو د ساتلو لپاره ډېره ښه لار له رسول الله ﷺ څخه نقل سوي ورځني تسبیحات او اوراد او د «الناس» او «الفلق» سورې دي چي پر کوچنیانو وویل سي او دغه د لوی څښتن په اذن کوچنیانو ته ګټه رسوي، نه تعویذونه.

**۶– په وربښتانو پوري د نورو وربښتانو تړل:**

ښځي ته په خپلو وربښتانو پوري د نورو وربښتانو تړل حرام دي. په دې حدیث:

«لَعَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ»[۲].

«پیغمبر ﷺ پر هغه ښځه چي د وربښتانو د لنډو یا اوږدو ایسېدو لپاره د بل نارینه یا ښځي وربښتان په خپلو وربښتانو یا د بل چا په وربښتانو پوري تړي او همداراز پر هغه ښځه چي له بل څخه غواړي چي د دې په وربښتانو پوري نور وربښتان وتړي، لعنت ویلی دی».

په هغه مفصله فتوا کي چي د علامه شیخ محمد بن صالح بن عثیمین لخوا د وربښتانو د تړلو د بېلو بېلو مسایلو په هکله ورکړه سوې ده، داسي راغلي دي: د مصنوعي وربښتانو له خولۍ څخه استفاده حرامه ده. او دا کار د ښځي لخوا په وربښتانو پوري د نورو د وربښتانو د تړلو په جمله کي راځي، که څه هم کټ مټ دغسي کار نه دی، خو د سر وربښتان لکه څنګه چي دي د هغو په خلاف ښیي، نو په همدې دلیل د وربربښتانو د تړلو سره ورته والی لري،او پیغمبر ﷺ

---

۱– په «فتاوی اسلامیه» (31/1) مخ کي د هیئت عالی افتاء د فتوا یوه برخه په لږ تصرف سره.

۲– البخاری.

پر هغې ښځې چې وربښتان د بل چا په وربښتانو پورې تړي او پر هغه ښځه چې له بل څخه غواړي چې د دې په وربښتانو پورې نور وربښتان وتړي، لعنت ويلی دی. خو که د ښځې سر ګردسره وربښتان ونه لري يا کل وي، نو د دې عيب د پټولو لپاره د مصنوعي وربښتانو له خولۍ څخه ګټه اخيستنه پروا نه کوي. ځکه چې د عيبونو پټول جواز لري. او په دې دليل چې پيغمبرﷺ هغه چا ته چې په يوه غزا کې يې پزه پرې سوې وه اجازه ورکړه چې د طلا له مصنوعي پزې څخه استفاده وکړي. نو په دې توګه دا مسأله پراختيا مومي او د ځان د ښايسته کولو او د دې اړوندو جراحي عملياتو مسايل هم پکښې شامليږي. بيا نو داسې کارونه چې د يوه عيب د پټولو لپاره تر سره کيږي څه ستونزه نه لري، لکه: د هغه چا د پزې عملياتول چې پزه يې کږه وي او سمه يې کړي، او د مثال په توګه د تور خال له منځه وړل، چې دا شيان پروا نه کوي. خو نا اړين کارونه، لکه خالونه وهل او وروځې اخيستل حرام باله سي. د مصنوعي وربښتانو له خولۍ څخه بې له شرعي دليله استفاده ان که د مېړه په اجازه او خوښه وي هم حرامه ده. ځکه په هغو چارو کې چې لوی څښتن حرام کړې دي، هيڅ رخصت او اجازه نسته[١].

**د سر په وربښتانو کې چپه لار ايستل:**

يوه مهمه خبره چې د ښځې په ځان جوړولو اړه لري د ښځې په سر کې د چپه لارې ايستلو په حکم پوهېده دي.

---

١- «فتاوى المرأة المسلمة»، (518/2) مخ.

له شیخ محمد بن صالح بن عثیمین څخه د ښځو د سر په ویښتانو کې د لارې ایستلو په هکله پوښتنه وسوه، هغه په جواب کې وویل: د ښځو په سر کې د لارې ایستل د سر د ویښتانو په منځ کې دود دې. د سر ویښتان په بېلو بېلو خواوو کې؛ د مخ خواته، د شاخواته، او کیڼې او ښې خوا ته وده کوي. د ویښتانو په منځ کې لار ایستل مشروع باله سي، خو د بغل (اړخ) لخوا په سر کې لار ایستل مشروعیت نه لري،او ښایي له کفارو څخه یو ډول تقلید وي، او دا عمل ممکن د رسول اللهﷺ د دې حدیث په حکم کې داخل سي چې فرمایي:

«صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا: قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلَاتٌ مَائِلَاتٌ رُءُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ لَا يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يَجِدْنَ رِيحَهَا وَإِنَّ رِيحَهَا لَيُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ كَذَا وَكَذَا».

«له دوږخیانو څخه دوې ډلې دي چې نه مې دي لیدلې: یوه ډله هغه ده چې د غوا د لکۍ غوندې شلاخې یې په لاس کې وي او خلک په وهي او هغه ښځې چې کالي یې اغوستي وي، خو په عین حال کې لڅې وي، او هغه ښځې چې خلکو ته تمایل ښیي او نارینه خپلو ځانونو ته متمایل کوي او د سرونو ویښتان یې د اوښ د بوک غوندې راکاږه کړي وي. دغه دوې ډلې هیڅکله جنت ته نه ننوزي او بوی یې هیڅکله نه احساسوي، په داسې حال کې چې د جنت بوی له ډېر لیرې واټن څخه د بوییدو وړ دی».

ځینو عالمانو د «مُمِیلَاتٌ مَائِلَاتٌ» تفسیر داسي کړی دی:دا هغه ښځي دي چي خپل وریښتان د اړخ خواته ږمونځوي او د نورو ښځو وریښتان هم دغسي ور ږمونځوي. خو سمه خبره داده چي له «مَائِلَاتٌ» څخه مراد هغه ښځي دي چي له خپلو دیني دندو څخه کومي چي پر هغو واجب دي او هم له حیا درلودلو څخه منحرفي سوي دي او نور هم منحرفوي،و الله أعلم[1] .

**٧– د سر له پاسه د وریښتانو سره ټولول او تړل:**

ځیني ښځي د سر ټول وریښتان د سر له پاسه سره ټولوي او تړي، یا هغه تاووي او د شا خواته یې سره تړي. علامه شیخ محمد بن صالح بن عثیمین د دې پوښتني په جواب کي چي د سر له پاسه د وریښتانو تړل څه حکم لري، لیکي:

عالمان په دې نظر دي چي د شاخواته د سر د وریښتانو سره تړل، د شریعت له مخي بد کار دی، او د رسول اللهﷺ د دې وینا په منع کي شامل دی:

«صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا...» الخ.

«له دوږخیانو څخه دوې ډلي دي چي نه مي دي لیدلي».ترپایه.

او په دې حدیث کي راغلي دي:

«وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلَاتٌ مَائِلَاتٌ رُءُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ».

---

١– «فتاوى المرأة المسلمة»، (530/2) مخ.

«او هغه ښځې چې کالي يې اغوستي وي، خو په عين حال کې لڅې وي، او هغه ښځې چې خلکو ته تمايل ښيي او نارينه خپلو ځانونو ته متمايل کوي او د سرونو وريښتان يې د اوښ د بوک غوندي راکاږه کړي وي».

پر دې بنسټ پر سر باندي د ودرېښتانو له ټولولو او تړلو څخه منع راغلې ده. خو پر څټ باندي د وريښتانو اچول پروا نه کوي. اما کله چې ښځه بازار ته ځي دا کار دې نه کوي، ځکه چې دا د ښکلا يو ډول ښوول باله سي. ځکه چې په دې توګه وريښتان مشخص کيږي او د فتنې د رامنځ ته کېدو لامل ګرځي، چې دا کار جايز نه دی[١].

**٨– د وريښتانو هغه سيخونه چې تصويرونه ولري:**

د هغو مواردو له جملې څخه چې يو شمېر ښځې يې په هکله بې پروايي کوي يو هم د هغو سيخانو رانيول دي چې د ښارويو تصويرونه لري، دا کار د هغو قطعي اسلامي نصوصو مخالف دی چې د تصوير ساتل حرام بولي.

ډاکټر شيخ صالح فوزان ـ حفظه الله ـ ويلي دي:

«... د وريښتانو له هغې پيتې او هغو سيخانو څخه استفاده چې تصويرونه لري او د مسيقۍ له آلاتو څخه استفاده جواز نه لري. په دې چې په کالو او نورو کې له تصوير څخه استفاده حرامه ده، خو د غاليو او فرشونو تصويرونه پروانه کوي، ځکه چې هغه تر پښو لاندي کيږي او شوړيږي. او د لهو لعب وسايل بايد له منځه ولاړ سي. او د

---

١ – «فتاوى المرأة المسلمة»، (527/2) مخ.

سر د وريښتانو پيټې او سيخان چې غير اخلاقي تصويرونه پر کښل سوي وي هم بايد له منځه ولاړ سي»[١].

**٩– د سترګو رنګه لينزونه:**

ځيني ښځې او نجوني د ښکلا لپاره له رنګه لينزونو څخه استفاده کوي او ځيني د لينزونو رنګونو ته د کالو د رنګونو سره سم بدلون ورکوي.

له ډاکټر شيخ صالح فوزان څخه پوښتنه وسوه چې: د سترګو د رنګه لينزونو څخه د ځان جوړولو او له موډ څخه د پيروۍ د وسيلې په توګه د استفادې حکم څنګه دی؟ البته دې ټکي ته په پاملرنه سره چې دغه لينزونه ډېر ګران هم دي؟

هغه ـ حفظه الله ـ په جواب کي وويل: له لينز څخه ګټه اخيستنه، کله چې ورته اړتيا وي پروا نه کوي، خو چې ورته اړتيا نه وي له هغو څخه ګټه نه اخيستل ډېر ښه دي، په تېره کله چې يې بيه ډېره لوړه هم وي، چې دا کار اسراف او حرام دی.

او څنګه چې د سترګو رنګ لکه څنګه چې دی، هغسي نه ښيي، نو دا بيا يو ډول فريبکاري هم بلل کيږي[٢].

**١٠– پای زيبونه:**

بې له شکه ښځې ته ، کله چې له کوره وزي او د نامحرمو خلکو په مخ کي له پايزيبونو څخه استفاده حرامه ده، لوی څښتن فرمايي:

﴿وَلَا يَضۡرِبۡنَ بِأَرۡجُلِهِنَّ لِيُعۡلَمَ مَا يُخۡفِينَ مِن زِينَتِهِنَّۚ﴾ [النور: ٣١].

---

١- «فتاوى المرأة المسلمة»، (528/2) مخ.

٢- «الفتاوى الجامعة للمرأة المسلمة»، (916/3) مخ.

«او هغوی دي د تلو په وخت کي خپلي پښې پر مځکه داسي نه وهي چي پټ سينګار يې خلکو ته ښکاره سي او د پايزيبونو ږغ يې واورېدل سي».

خو له پايزيبونو څخه استفاده د مېړه په مخ کي رواده، لکه چي د شيخ عبدالعزيز بن باز په فتوا کي راغلي دي: د ښځي لخوا له پايزيبونو څخه ګټه اخيستل د هغې د مېړه او محارمو په مخ کي پروا نه کوي. ځکه دا يو ډول ګېڼه باله سي[1].

**١١– د جګو کريو (پوندو) لرونکي بوټونه:**

ډېري ښځي او نجوني د جګو کريو لرونکي بوټونه په پښو کوي چي ونه يې جګه وايسي. (د سعودي عربستان) د افتاء د عالي هيئت په فتوا کي راغلي دي:

د جګو کريو لرونکو بوټونو په پښو کول جواز نه لري، ځکه چي کېدای سي ښځه د هغو د په پښو کولو له امله غوځاره سي، او انسان له ديني نظره امر سوی دی چي ځان له خطره ګوښه وساتي، لوی څښتن ﷻ فرمايي:

﴿وَلَا تُلۡقُواْ بِأَيۡدِيكُمۡ إِلَى ٱلتَّهۡلُكَةِ﴾ [البقرة: ١٩٥].

«خپل ځانونه په خپلو لاسونو هلاکت ته مه اچوئ».

او فرمايي:

﴿وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡۚ﴾ [النساء: ٢٩].

«او خپل ځانونه مه وژنئ (ځان وژنه مه کوئ)».

---

١– مخکنی مأخذ (916/3)مخ.

او همدا رنګه دغه ډول بوټونه د ښځي ونه تر خپلي رشتيانی اندازې زياته ښيي، چي په دې توګه د يو ډول فريبکارۍ لامل ګرځي. او همدا رنګه د هغو ښکلاوو د ښکاره کېدو لامل کيږي چي مسلمانه ښځه د هغو له ښکاره کولو څخه منع سوې ده. لوی څښتن فرمايي:

﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ ءَابَآئِهِنَّ أَوْ ءَابَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَآئِهِنَّ أَوْ أَبْنَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِىٓ إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِىٓ أَخَوَٰتِهِنَّ أَوْ نِسَآئِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُنَّ أَوِ ٱلتَّٰبِعِينَ غَيْرِ أُوْلِى ٱلْإِرْبَةِ مِنَ ٱلرِّجَالِ أَوِ ٱلطِّفْلِ ٱلَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُواْ عَلَىٰ عَوْرَٰتِ ٱلنِّسَآءِ ۖ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ ۚ وَتُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٣١﴾﴾ [النور: ٣١].

«او ای پېغمبره! مومنو ښځو ته ووايه چي خپلي سترګي تر واک لاندي وساتي. او د خپلو شرمځايونو ساتنه وکړي او خپله ځان جوړونه او سنيګار دي نه ښکاره کوي، پرته له هغه چي په خپله څرګند سي، او پر خپلو سينو دي دخپلو پوړنو پلوونه واچوي. هغوی دي خپله ځان جوړنه او سينګار نه ښکاره کوي، مګر د دې خلکو په وړاندي: مېړونه، پلرونه، د مېړو پلرونه، خپل زامن، د مېړونو زامن (بنزيان) ورونه، وريرونه، خوريونه، دخپلي طبعي ښځي، خپل مملوك، خپل هغه لاس لاندي نارنيه چي ښځو ته حاجت ونه لري، او هغه ماشومان چي لا تراوسه پوري دښځو له پټو خبرو سره آشنا سوي نه وي او هغوی دي پر مځکه باندي په زوره پښو وهلو سره په داسي شان تګ نه کوي چي دهغو دپټ کړي سينګار خلکو ته

معلومات وسي. ای مومنانو! تاسي ټول په ګډه سره الله ته توبه وباسئ، هيله ده چي برى در په برخه سي»[١].

**١٢– عطر وهل:**

ځيني ښځي او نجوني له کور څخه تر وتلو دمخه عطر وهي چي د دې لامل کيږي چي د هغو نارينه وو پام وروا‌وړي چي د هغو په لار کي اوسي.

له شيخ عبدالعزيز بن باز څخه پوښتنه وسوه چي: آيا ښځي ته روادي چي کله ښوونځي يا پوهنتون يا روغتون يا د خپلوانو ليدو ته ځي په ځان عطر ووهي؟

هغه په جواب کي وويل: کله چي ښځه غواړي د ښځو مجلس ته ورسي او په لار کي يې نارينه نه وي، نو عطر وهل ورته روا دي، خو ورته روا نه دي چي عطر ووهي او بازار ته چي خلک پکښي ګرځي ولاړه سي. حضرت رسول اللهﷺ فرمايلي دي:

«أَيُّمَا امْرَأَةٍ أَصَابَتْ بَخُورًا فَلَا تَشْهَدَنَّ مَعَنَا الْعِشَاءَ»[٢]

«هري ښځي چي عطر وهلي وي، نو زموږ سره دي د ماخستن په لمانځه کي ګډون نه کوي».

په دې هکله نور احاديث هم روايت سوي دي.

دا له دې امله دي چي که ښځه عطر ووهي او په لار کي يې نارينه يا د نارينه وو د ناستي ځای وي، لکه جومات او داسي نور، نو د هغو

١– «الفتاوى الجامعة للمرأة المسلمة»، (912/3) مخ په لنډون سره.

٢– مسلم او نور.

پام ور اوړي، په داسي حال کي چي ښځه بايد خپل ځان پټ وساتي او له ځان ښکاره کولو څخه ډډه وکړي. لوی څښتن فرمايي:

﴿وَقَرۡنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجۡنَ تَبَرُّجَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ ٱلۡأُولَىٰۖ﴾ [الأحزاب: ٣٣].

«او په خپلو کورونو کي کښېنئ او د تېر جاهليت د مهال د ښځو غوندي (دنارينه وو په منځ کي) سينګار کړي بې ستره مه څرګندېږئ، خپل غړي او د سينګار وسايل د نورو ليدو ته مه وړاندي کوئ».

د خپل ځان د ښکاره کولو له مظاهرو څخه د خپلو ښکلاوو، لکه مخ او سر او نورو څرګندول دي[1].

او له دې کار څخه د ډډي کولو لپاره د رسول اللهﷺ دا حديث بسنه کوي چي فرمايي:

«أَيُّمَا امْرَأَةٍ اسْتَعْطَرَتْ ثُمَّ مَرَّتْ عَلَى الْقَوْمِ لِيَجِدُوا رِيحَهَا فَهِيَ زَانِيَةٌ وَكُلُّ عَيْنٍ زَانِيَةٌ»[2].

«هره ښځه چي عطر ووهي او بيا له کوره ووزي او د خلکو له څنګه د دې لپاره تېره سي چي د دې د عطرو بوی احساس کړي، نو هغه زنا کاره ده او کومي سترګي چي هغه ويني زناکاري دي».

---

١- «الفتاوی الجامعة للمرأة المسلمة»، (904/3) مخ.

٢- احمد او نور او الباني هغه حسن بللی دی.

## په پای کې:

ای زما درنې خور! هیله ده چې د شرعي اشتباهاتو په یادونه، چې په دې وختونو کې ډېرې ښځې په اخته دي را څخه خوابدې سوې نه اوسې. ما دغه صادقانه نصیحتونه یوازې خپلو مسلمانو خوندو ته د یادونې په موخه وکړل . نو زما ګرانې خورې! کوښښ وکړه چې که په کالو او سینګار کې کوم غیر شرعي کار در څخه سوی وي پرې یې بږدې او دا مطلب په پام کې ونیسې چې که څوک یو کار د لوی څښتنﷻ لپاره پرېږدي، نو هغه به د هغه په مقابل کې تر هغه ښه شی ورکړي.

د ښځې رشتیانې ښکلا داده چې ایمان ولري، د خدای په اوامرو پابنده وي او له دې څخه وشرمیږي چې پروردګارﷻ هغه هر کله او په هرځای کې د ګناه په حال کې ووینې.

وصلی الله وسلم علی نبینا محمد وعلی آله وصحبه اجمعین

وآخر دعوانا ان الحمدلله رب العالمین

# د ژباړن لنډه پېژندنه

**عبد المالك «همت»**

- د پلار نوم يې مولوي عبدالرزاق.
- د کندهار په سوزني کي زېږېدلی دی.
- د زېږېدو کال يې ۱۳۳۲ لمريز.
- په اسلامي او ټولنيزو علومو کي يې خصوصي زده کړې کړې دي.
- د ډاکټر نجيب الله د واکمن کېدو په لومړيو کي له هيواده مهاجر سو، لومړي پاکستان او بيا هند ته کډه سو.
- کله چي لا طالبان پر کابل نه وه واکمن سوي تر اوږدې کډوالۍ وروسته هيواد ته راستون سو. لومړی په کندهار کي اوسېدی او اوس په کابل کي استوګن دی.
- اوس په کور کي د کتابونو په ليکلو بوخت دی.
- تر اوسه يې لاندي آثار ليکلي دي:

١- د همت چيغه (شعري ټولګه) په ۱۳۸۰ ل.کال خپره سوې ده.
٢- سيد جمال الدين افغاني اند او ژوند (ژباړه) په ۱۳۸۱ ل.کال خپره سوې ده. په ۱۳۸۹ل.کال دوهم ځل خپره سوه.
٣- زموږ د قبلې تاريخ (دمکې مکرمې تاريخ) په۱۳۸۵.کال دوهم ځل خپور سو. په ۱۳۸۹ کال دريم ځل خپور سو.
٤- زموږ د نبي مينه (د مدينې منورې تاريخ) په ۱۳۸۵ ل.کال خپور سو. په ۱۳۸۹ کال دوهم ځل خپور سو.

۵- ادب او ادبي کره کتنه په ۱۳۸۵ ل. کال خپور سو.
٦- د مقالې ليکلو اصول په ۱۳۸۵ ل. کال خپور سو. په ۱۳۸۸ کال دوهم ځل خپور سو.
۷- زموږ صحت او آخرت ته تاواني توکي په ۱۳۸٦ ل. کال خپور سو. په ۱۳۹۰ ل. کال دوهم ځل خپور سو.
۸- پوپنا سوي ولسونه (ژباړه). په ۱۳۸٦ ل. کال خپره سوه.
۹- زموږ د دښمنانو تور تاريخ او شومي موخي په نامه کتاب په ۱۳۸۷ ل. کال خپور سو.
۱۰- د آسيا نن او سبا په نامه (ژباړه) په ۱۳۸۷ ل. کال خپره سوه.
۱۱- غرور او د هغه علاج (ژباړه) په ۱۳۸۸ ل. کال خپره سوه.
۱۲- د کلمې شريفي حقيقت (ژباړه) په ۱۳۸۸ ل. کال خپره سوه.
۱۳- اسلام د دوه لاري پر سر (ژباړه) په ۱۳۸۸ ل. کال خپره سوه.
١٤- د حق او باطل جګړې، په ۱۳۸۸ ل. کال خپور سو.
۱۵- د لوېديځ مشران وايي: اسلام او مسلمانان له منځه يوسئ (ژباړه) په ۱۳۸۹ ل. کال خپره سوه. په ۱۳۹۰ کال دوهم ځل خپره سوه.
۱٦-د حق او باطل د جګړې په هکله (۲۵) مقالې (ژباړه) په ۱۳۸۹ ل. کال خپره سوه.
۱۷-د حق او باطل په جګړه کي الهي سنت (ژباړه) په ۱۳۸۹ ل. کال خپره سوه.
۱۸- راځئ توبه وکاږو، په ۱۳۹۰ ل. کال خپور سو.
۱۹- زه توبه کاږم، خو...؟ (ژباړه) په ۱۳۹۰ ل. کال خپره سوه.
۲۰-د اسلام د بري زېري (ژباړه) په ۱۳۹۰ ل. کال خپره سوه.

٢١-پښتو معلم الحجاج (ژباړه) په ١٣٨٦ل.کال خپره سوه.
٢٢- د ښځو د حج او عمرې لارښود په ١٣٨٨ل.کال خپور سو .
٢٣-نېکمرغه کورنۍ او د مېړه او مېرمنې اختلاف (ژباړه) په ١٣٩٠ل.کال خپر ه سوه.
٢٤-د وروځو او مخ د وربېښتانو کښل د اسلام او طبابت له نظره (ژباړه) په ١٣٩٠ ل.کال خپر ه سوه.
٢٥-د ښځو د کالو او سینګار په هکله ارزښتناکي لار ښووني.دغه ژباړه ده چي اوس ستاسي په لاس کي ده.

پر دې سربېره يې د هيواد په دننه او دباندي کي بېلي بېلي مقالې هم خپرې سوي دي.

د ليکوال د ګرځنده تليفون لمبر:0093 700300167
د ليکوال د برېښناليك يا ايمېل آدرس:
**himmat_ afg@yahoo.com**